بسم الله الرحمن الرحیم

# تحلیل

**څېړنيزه او علمي شپږ میاشتنۍ مجله**

اوومه ګڼه، سرطان - ۱۳۹۹ هـ ش

Issue no 7th | – July 2020

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# تحلیل

**مجله تحقیقی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی**


### رئیس تحریر

نصیر احمد نویدی

رئیس مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

### مدیر تحریر

احمد بلال خلیل

محقق مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

### هیئت تحریر

- دکتور صفت الله قانت
  *کارشناس امور اجتماعی و تاریخ*
- دکتور مصباح الله عبدالباقی
  *رئیس پوهنتون سلام - کابل*
- استاذ محمد زمان مزمل
  *نویسنده و کارشناس امور سیاسی*
- مطیع الله تایب
  *کارمند شبکهء جهانی الجزیره*
- پوهندوی دکتور عبدالصبور فخری
  *عضو کادر علمی فاکولتۀ زبان و ادبیات پوهنتون کابل*
- داکتر وحیدالله مصلح
  *عضو مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی*
- محمد مدثر اسلامی
  *کارشناس امور اجتماعی و تعلیمی*
- معاون سر محقق؛ عبدالرحمان حکیمزاد
  *عضو اکادمی علوم افغانستان*
- اجمل جلال
  *عضو مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی*


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د مرکز پېژندنه

د ســـتراتېژيکو او ســـيمه‌ييزو څېړنو مرکز يو غير انتفاعي، غير حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـــش کال کې تأســـيس شـــوی دی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو ارزولو او د هغو د پراختيا لپاره فعاليت کوي. د مرکز يوه موخه د پاليسۍ او څېړنو ترمنځ واټن کمول دي.

د نـورو مـعـلـومـاتـو لـپـاره د مـرکـز وېـب‌پـاڼـه وګـورئ (www.csrskabul.com)

د دغه مجلې ټول حقوق © ۱۳۹۹ له ســـتراتېژيکو او ســـيمه‌ييزو څېړنو مرکز سره خوندي دي.

له سريزې پرته د نورو مطالبو سپيناوی په ليکوالانو پورې اړه لري.

تحليل مجلې ته د مقالو/ليکنو راليږلو برېښناليکونه:
info@csrskabul.com
abilalnajeeb@gmail.com

موبايل:
+93 (0) 731112191

## په "تحليل" څېړنيزه مجله کې د څېړنو د خپراوي مقررات

۱- مجله په سياسي، ټولنيزو، فرهنګي، اقتصادي، او بېلابېلو علمي ډګرونو پورې تړلې، هغه څېړنيزې او علمي ليکنې خپروي، چې په منهجي لحاظ ســـمې او له علمي او فکري لوري اصالت ولري. (له بل چا څخه نه وي اخېستل شوې). ځای پرځای ماخذونه پکې په لمن‌ليکونو کې په نښــه شـــوي وي.

۲- مجله هغه ليکنې خپروي، چې مخکې د کتاب په بڼه او يا بل کوم نشرـاتي ارګان له‌خوا نه وي خپرې شوې. د دغسې ليکنو د خپراويk او يا نه خپراوي، په اړه وروســـتۍ پرېکړه کتنپلاوې ډله کوي.

۳- د تحقيقي ليکنو د کليمو شمېر بايد، له ۵ زرو کم او تر ۱۵ زرو کليمو زيات نه وي، له دې اندازې ډېروالی يا کموالی، د تحرير د مدير موافقې ته اړتيا لري.

۴- د ليکنې لغوي سمون د ليکوال دنده ده او وروستی سمون يې د مجلې د اداري له‌خوا کېږي.

۵- ليکنه په هغه صورت کې اخېستل کېږي، چې ظاهري بڼه يې سمه او لومړني شرطونه يې، پوره کړي وي.

٦- پر هرې څېړنيزې ليکنې، د مجلې کتنپلاوې ډله د تحکيم پرېکړه کوي.

۷- که ليکنه د خپراوي وړ وګڼل شـــوه او څه ســـمونې پکې مطلوبې وي، نو د ســـمونو د ترسره کولو په موخه، ليکوال ته لېږل کېږي او يا يې موافقه غوښتل کېږي.

۸- ليکنه تر سـمون وروسـته، د برېښـناليک له لارې د مجلې دفتر ته سپارل کېږي.

۹- هغه بحثونه، چې په مجله کې له خپراوي پاتې شي، بېرته يې ليکوال ته سپارل د مجلې د دفتر دنده نه ده.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# فهرست

**سخن مرکز**

نصیر احمد نویدی

**سریزه**

احمد بلال خلیل

## فکري بحثونه او انګریزي مقالې

**اسلامي ډلې؛ لاسته راوړنې او پرېوتنې**

**محمد زمان مزمل**

**محورهای وحدت اسلامی در اندیشه سید جمال الدین افغانی**

**معاون سر محقق عبدالرحمن حکیمزاد**

**د کتاب مخکتنه**

**عبدالله الاحسن. اُمت که ملت؟ په معاصره مسلمانه ټولنه کې د هویت بحران**

**احمد بلال خلیل**

## English Articles

THE CAP REGION IN THE POST-2014: THE PROSPECTS AND CHALLENGES FOR COOPERATION

**Ahmad Bilal Khalil**

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# سخن مرکز

مطالب مربوط به شماره 7 ژورنال تحلیل در ماه حوت 1398 هـ ش تکمیل و آماده ی چاپ بود. هنوز تیم تخنیکی مرکز مطالعات از پروسه ی بازبینی و دیزاین فراغت نیافته بود که متأسفانه وبای کرونا و به تعقیب آن نافذ شدن شرائط قرنطین در شهر کابل، چاپ خانه ها از کار باز ماند و کار چاپ ژورنال هم با ستکتگی مواجه گردید. تا اینکه هیئت اداری مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی CSRS در نشست آنلاین ماه جوزای خود فیصله نمود تا با در نظر داشت شرائط قرنطینه، این بار ژورنال تحلیل را به طور استثناء به شکل دیجیتال به نشر برساند.

با استفاده از فرصت از تمام محقیقین و نویسندگان محترمی که لطف نموده نوشته های شان را بخاطر نشر در ژورنال تحلیل در اختیار ما گذاشته اند؛ یکبار دیگر اظهار سپاس و امتنان نموده از همه پوزش می طلبم که بخاطر ظروف بیرون از اراده، در چاپ نشریه تأخیر صورت گرفت. امیدواریم شماره ی بعدی ژورنال به همکاری محققان محترم در وقت معین آن، بدون معطلی و تأخیر به نشر برسد.

امیدواریم مطالب این شماره ی ژورنال تحلیل، عطش پژوهش گران و اهل علم را سیراب نموده مراجع پالیسی ساز را در روند پالیسی سازی بهتر برای آینده ی کشور، یاری رساند.

به آرزوی نجات کامل جهان از شر وبای کرونا و به امید تحقق صلح و ثبات در وطن عزیز ما افغانستان.

ومن الله التوفیق

نصیراحمد نویدی

رئیس مرکز

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د مدیر سریزه

د ۲۰۲۰ کال د ډېرو لپاره نا اټکلېدونکی و. هېڅ چا هم نه وه پتېیلې، چې نړۍ به د کورونا وباء له کبله دومره متضرره کېږي څومره چې وځپل شوه او نه هم چا داسې انګېرله چې د افغان طالبانو او امریکا ترمنځ به د پټو دروازو تر شا د خبرو اترو له اوږدو سلسلو وروسته د دوی ترمنځ په افغانستان کې د سولې راوستلو په تړاو تړون لاسلیک کېږي. خو دا هغه څه و چې پېښ شول.

**د کورونا وباء**

د چین په وهان ښار کې د کورونا په نامه یو نوی مرض له ځناورو څخه انسان ته خپور شو او اوسمهال یې نه دا چې نړۍ په خپلو منګولو کې نیولې بلکې له حرکته یې هم غورځولې ده. دې نوې وباء له ځان سره د وژلو، قرنطینه، او اقتصادي تاوانونو پرته یو شمېر سازشي نظریو ته هم لاره پرانیسته. له پرمختللو ټولنو نیولې تر پرمختلونکو ټولنو پورې به دغه ویروس په دومره سرعت نه وي خپور شوی لکه څومره چې یې سازشي نظریو د خلګو اذهان اغېزمن کړي دي. دا په خپله ښيي، چې موږ د ویروس په مقابل کې د دفاعي مقاومت له لوړولو څخه ډېر د سازشي نظریو پر وړاندې مقاومت ته هم اړتیا لرو. هو هغه مقاومت چې د ریشنلیزم په نامه پېژندل کېږي.

په بل اړخ کې؛ د کورونا وباء نړیوال نظم تر ګواښ لاندې نیولی دی. د نړیوالو اړیکو چارپوهان او تیوریسینان د کورونا وباء له ختمېدو وروسته نړۍ د کورونا وباء څخه له مخکینۍ نړۍ څخه بېله ګڼي. دا چې دغه وباء به په راتلونکي کې د نړیوالو ترمنځ همکاري زیاته او د امنیت فلسفه به له خپلې کلاسیکي نظامي تعریف څخه رابهره کړي و کنه راتلونکی به یې ځواب کړي؛ خو یو څه چې د دې وباء پرمهال څرګنده شوه، هغه دا چې امریکا د اېبولا مرض پرمهال چې څرنګه نړۍ په خپلې نوښتګرې مشرۍ د همکارۍ لپاره راټوله کړې وه او په بریالیتوب یې ورسره مبارزه وکړه هغه ډول یې د کورونا وباء پرضد نوښتګره مشري او موثره مبارزه ونشوای کړای او داسې یې د امریکا مشري تر سوال لاندې ونیوله. د امریکا له خوا د کورونا پرضد له مشرۍ او مسؤلیت څخه تېښته، د امریکا او ایتلافیانو ترمنځ یې واټن نور هم زیات کړ. هغه هم په داسې مهال چې د امریکا ایتلافي هېوادونه (اروپا) له چین او ایران وروسته په دویم قدم کې سخته وځپل شوه او هلته د ماسکونو او مصنوعي ځاه ورکولو ماشینرۍ (وینټیلیټرز) اړتیا حبس کېده. چین دغه تشه محسوسه کړه او دا چې په تېر کې ډېرۍ هېوادونو او لویدیځ د دې توکو په تړاو پر چین متکي وو د چین لپاره یې لاره نوره هم هواره کړه. همدا لامل و چې چین څه ناڅه له یو شمېر آسیایي، افریقایي او اروپایي هېوادونو سره مرستې وکړې او هڅه یې وکړه چې د کورونا پرضد د نړیوالې مشرۍ تشه ډکه کړي. همدا لامل و، چې د ایټالیې ولسمشر وویل: موږ له اروپایي ټولنې تمه شکېدلې او چین ته سترګې په لار یو. دا چې په نړیواله سوداګرۍ کې به

د نسبي برترۍ او يا مطلقې برترۍ تيورۍ پرځای پاتې شي او يا به هېوادونه په هرې برخه کې د خوداکتفايۍ پر لور ببرته وروګرځي يو ببل بحث دی او په راتلونکي کې به د زبرځواکونو پالیسي جوړونکي اغېزمن کړي.

د امنیت د پراخې او هر اړخيزې فلسفې اړتيا بل هغه څه دی، چې زبرځواکونه او واړه هېوادونه به ورته لا متوجه کړي. د ۱۹۸۰ لسيزې په پای کې، هندي امرت سينها، چې په اقتصاد کې يې د خپلو څېړنو له لارې د نوبل جايزه وګټله، او د امنيت او پرمختګ تعريف په پراخولو کې يې رول ولوباوه. وروسته، پاکستاني اقتصاد پوه محبوب الحق د همدې هندي اقتصاد پوه په تعقيب د ملګرو ملتونو د پرمختيا پروګرام لپاره د انساني پرمختګ انډکس جوړ کړ او پرمختګ يې يوازې د اقتصادي ودې يا هم د في کس عايد له زياتېدو سره ونه تاړه بلکې په دې کې يې ټولنيز او روغتيايي شاخصونه هم دننه کړ. همهاله، د نړيوالو اړيکو يو بل تيوريسن بېري بوزان هم د امنيت فلسفه له روايتي فلسفې څخه چې يوازې يې پر نظامي امنيت ټينګار کاوه څخه رابهره کړه او په دې کې يې د نورو په ګډون چاپيريالي، ټولنيز او روغتيايي امنيت هم ورګډ کړ. دا چې په نړۍ کې به د کورونا وباء څومره هېوادونه اړ کړي، چې د روايتي نظامي امنيت وراخوا به نورو نارواېتي امنيت ته څومره پاملرنه وکړي د ډېر بحث وړ ده؛ خو يو څه چې له اوسنيو او تېرو ځمکنيو حقايقو برسېره ده، چې نړېوال سياست به په لويو او امنيتي قضاياوو کې همداسې تر ډېره د رياليزم له سياست څخه اغېزمن وي (په ډېرو ورو او نورو غېر امنيتي برخو کې به له لېبرالېزم اغېزمن کېږي) او ډېره ستونزمنه ده چې زبرځواکونه او نور هغه هېوادونو چې له محسوسو امنيتي ګواښونو سره مواجه وي د هغوی پاملرنه د وسايلو په کمښت کې له نظامي امنيتي تعريف څخه نارواېتي امنيتي تعريف ته واوړي؛ ځکه انساني فطرت د نالمس کېدونکو ګواښونو (لکه د کورونا وايروس) په پرتله تر ډېره له لمس کېدونکو ګواښونو (لکه جګړه، چاودنې او تروريستي پېښې) وېره لري او ډېری مهال همدا لمس کېدونکي ګواښونه جدي نيسي.

**«لويديز کمېدنه»**

په ۲۰۲۰ کال کې يوې بلې موضوع چې د لويديځو پالیسي جوړونکي يې اغېزمن کړي او موږ ورته پورته هم اشاره وکړه هغه د امريکا او اېتلافي هېوادونو ترمنځ مخ پر زياتېدونکي واټن ده. له امريکا پرته په نورو لويديځو هېوادونو کې دا ډول جدي اندېښنې ځکه سر راپورته کوي، چې د ډونلډ ټرمپ تر ولسمشرۍ لاندې امريکا د لويديځ په امنيت کې لېوالتيا نه اخلي. ځکه په همدې تړاو د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پومپيو د ۲۰۱۹ کال په ۱٦ فبرورۍ ويلي و:

«مورږ د لویدیځ د دفاع تضمین نه شو کولای که چېرې زموږ ملګري (ایتلافیان) پر ختیځ تکیه کوي». دا چې له ختیځ څخه معنی دلته له چین او روسیې سره د اروپا نږدې کېدونکي اړیکې مراد دي او که د ختیځ ارزښتونه؛ تر ډېره معلومه نه ده. خو برسېرن نظرونه ښیي، چې امریکا به له اروپا سره د چین نږدې کېدونکي روابط او د هوواوی G5 ټکنالوژۍ کارول او د روسیې پر غازو د اروپاپانو تکیه مرادوي. په ډېره لېوالتیا سره، د ۲۰۲۰ کال په دویمه میاشت کې، د جرمني میونېخ امنیتي کنفرانس ټول همدې موضوع ته ځانګړی شوی و او د کنفرانس عنوان و: «لویدیز کمېدنه» ( .(Westlessnessد دې امنیتي کنفرانس د چمتوکوونکو په آند، لویدیځ له دوو ډولو ننګونو سره مخ دی، چې دا ننګونې بیا داخلي او بهرني دي. په داخلي ننګونه کې، دوی د «لویدیځ» فلسفې له چاودلو اندېښنه لري؛ ځکه د دوی په اند د لویدیځ فلسفه تر ډېره له لېبرالې ډیموکراسۍ، انساني حقونو، آزاد مارکېټ او په نړیوالو انستیټونو کې له نړیوالې همکارۍ څخه جوړه بولي او دغو ارزښتونو ته ګواښ بیا تر ډېره د لویدیځ دننه پاپولیزم او پاپولیستي خوځښتونو او د یو شمېر سپین پوستو نژادي تبعیض بولي. په بهرنۍ ننګونه کې؛ د نړیوال لېبرال نظم ځپل کېدل ګڼي، په نورو هېوادونو کې د بشري لاسوهنو تر نامه لاندې کمې مداخلې بولي ځکه د دوی په آند د لویدیځ دننه د لویدیځ ارزښتونو بحران د دې باعث شوي چې په بهرنۍ نړۍ کې خونړۍ او خشونت آمیزه بڼه لري. دا چې نړۍ به د لویدیځ د بشري لاسوهنې ( (Human Interventionیا د خوندیتوب مسؤلیت ( (Responsibility to Protectله کبله ډېره سوله ییزه او باامنه وي، که له دې پرته؛ ډېره جنجالي او د بحث وړ قضیه ده؛ ځکه په بوسنیا او هریګزونیا کې؛ د لویدیځ دې تګلارې مثبته پایله ورکړې وه. خو په عراق، لیبیا او سوریه کې یې پایلې تر ډېره مثبتې راونه وتلې، او یو بحران پر بل ناوړه بحران پښه واړوله. د دې ترڅنګ؛ د چین له خوا د لویدیځ د نړیوال لېبرال نظام د یو شمېر نړیوالو انستیټونو په مقابل کې د یو شمېر متبادلو انستیټونو جوړونه بل هغه څه دی، چې دوی یې خپل نظم ته ګواښ بولي. دا چې د نړۍ یو شمېر هېوادونو، سیمو او ستونزو په تړاو د دوی څه نظرونه وو، له عنوانونو یې اندېښنې څرګندې برېښي. د بېلګې په توګه:

د امریکا متحده ایالات؛ وېشلي به دربېږو؟

چین؛ لاسوهونکی سلطنت

روسیه؛ تېر ایستونکی دولت

اروپا؛ د اروپایي ستوري مسابقه

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**د امریکا-چین سیالۍ له کبله وېشلې نړۍ**

ننۍ نړۍ او راتلونکو څو لسیزونو کې به د امریکا او چین ترمنځ سیالي نوره هم ارتېږي او د ډېرى هېوادونو بهرنۍ چارې به اغېزمنې کړي. د امریکا او چین ترمنځ ننۍ سیالي همغه د پخواني یوناني مورخ په توسیدیدیز دام کې په ښه توګه خلاصه کېږي، کله چې هغه د پنوپولیسین جګړې په تړاو ولیکل، چې د ایتهنز راپورته کېدنې په سپارټا کې اندېښنې وپارولې. همدا لامل دی، چې ډېرى مهال د راپورته کېدونکي ځواک او پرځای ځواک ترمنځ سیالي تر ډېره پر جګړو بدلون موندلی دی. ګراهم ایلیسن چې د هارورډ پوهنتون استاد دی او د توسیدیدیز دام اصطلاح اختراع کوونکی دی، په خپل کتاب کې له ۱۵۰۰ څخه تر اوسه دا ډول قضیې څېړلې او دې پایلې ته رسیدلی چې له ۱۶ بېلګو څخه یوازې ۱۲ د راپورته کېدونکي ځواک او پرځای ځواک ترمنځ پر جګړو اوښتې دي (له څلورو استثناوو څخه یوه مشهوره استثنی د امریکا او انګلستان ده، چې کله امریکا د انګلستان مقام ونګاوه نو دا پر جګړې وانه ووښت). خو پوښتنه زېږي، چې ولې امریکا د ۱۹۷۰مې لسیزې راپدیخوا، په نړۍ کې د چین د ادغام او په راپورته کېدنه کې رول ولوباوه. یو شمېر شنونکي، دا د سړې جګړې پرمهال د کمونیستي بلاک دننه د چین او شوروي اتحاد رقابت ته ګوتڅنډنه کوي چې امریکا له دې حالت ګټه واخیستله څو شوروي اتحاد نور هم منزوي او مهار کړي. د امریکایي ولسمشر ډونلډ ټرمپ یو مشاور چې په امریکا کې د چین پېژندونکي په توګه نومیالی دی په ۲۰۱۶ کال کې په دې تړاو د ۱۰۰ کلونو ځغاستنې تر نامه لاندې کتاب ولیکه او پکې یې استدلال وکړ چې د چین له راپورته کولو د امریکا یوه موخه دا وه چې چین به په تدریجي توګه د مارکېټ اقتصاد او لېبرالې ډیموکراسۍ پر لور سوق کړي او په دا ډول به په نړېوال لېبرال نظم کې مدغم شي. خو د ده په اند د امریکا دا ډول انګېرنې غلطې راوختلې. ځکه چین په نړیواله کچه د امریکا لرې کول او پرځای یې د ځان میخولو پټ پلان لري. هر څه چې وي وي به؛ خو چین اوسمهال په سمه معنی د امریکا رقیب دی او امریکا هم اوس د چین له راپورته کېدا وېره لري.

**افغان حکومت؛ د امنیت په تلاش کې**

په تاریخي توګه د افغانستان بهرنۍ سیاست تر ډېره د بهرنیو مرستو پر راټولونې، د نړیوال سیاست په قطبي کېدو کې پر ناپېیلتوب او له ټولو اړخونو څخه پر ګټه اخیستنې راڅرخېږي. دا تر ډېره له دې ځایه هم منشې اخلي، چې په افغانستان کې له یو شمېر حکومتونو سره دا ډول فکر وه چې هېواد باید د زبرځواکونو له سیالۍ څخه وژغورل شي او ترڅنګ یې د حکومت د خوندي کولو او بقا خبره وه. دا ډول چلند د ۱۹مې پېړۍ په لویه لوبه او ۲۰مې پېړۍ په سړه جګړه کې وشول او اوس هم په ۲۱مه پېړۍ کې ترسره کېږي (د ۲۱مې پېړۍ پېل له تېرو پېړیو سره یو توپیر درلود چې دغه مهال نړۍ یو قطبي وه او د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې حکومت هم له همدې قطب سره پرمخ ولاړل). اوسنی (۲۰۲۰) حالت هم کوم استثنایي حالت نه دی. په دې وخت کې هم، افغانستان د بهرنیو مرستو په

تلاش کې دی څو خپل امنیتي لګښتونه پوره کړي او پای له ۲۰۰۱ کال راهیسې د جوړ شوي نظام بقا پر داسې مهال تضمین کړي، چې امریکا او طالبانو په افغانستان کې د سولې راوستلو په تړاو تړون لاسلیک کړی او له مخې به یې امریکا تر ۱۴ میاشتو پورې په بشپړه توګه له افغانستانه ووځي.

د ملي یووالي حکومت پرمهال د افغان حکومت امنیتي تګلاره تر ډېره له افغان طالبانو سره پر جګړې منحصره وه او له اوله د افغان ولسمشر اشرف غني پالیسي په لاندې ټکو کې راټوله وه:

لومړی؛ له لویدیځو هېوادونو سره د اړیکو بیا جوړونه: د حامد کرزي په دویمه دوره کې چې د افغان حکومت او امریکا ترمنځ اړیکې خرابې شوې وې د ملي یووالي حکومت د دورې په لومړیو کې د دا ډول اړیکو بیا رغتښتنه وشوه. د حکومت ۲۴ ساعتونو دننه له امریکا او ناټو سره امنیتي تړونونه لاسلیک شول او بهرنیو ځواکونو ته د شپنیو عملیاتو اجازه بیا ورکړل شوه. د دې ترڅنګ افغان حکومت په دې ټوله دوره کې د بهرنیانو له خوا د ملکیانو په نښه کولو هم خاموش پاتې شو.

دویم؛ د تروریزم پر وړاندې د سیمه‌ییزې اجماع رامنځته کول: له امریکا سره د اړیکو د بیا جوړونې پسې سمدستي، افغان ولسمشر اشرف غني په خپل نارسمي سفر سعودي ته ولاړ او بیا په خپل لومړني رسمي سفر چین ته ولاړ. ورپسې افغان ولسمشر پاکستان، ایران، ترکمنستان او ان روسیې ته هم سفرونه وکړل څو د تروریزم پرضد یوه سیمه‌ییزه اجماع رامنځته کړي. له دې دریځ څخه د افغان حکومت تمه وه، چې پاکستان به وهڅوي څو په افغان سوله کې رېښتینی او صادقه رول ولوبوي. د سیمې هېوادونو ته وروښیي چې هېواد کې روانه جګړه د سیمې په خېر نه ده او همدغه راز د سیمې هېوادونه له افغان دولت سره په امنیتي برخو کې همکارۍ ته هم جلب کړي.

دریيم؛ د جګړې د دوام په تړاو مذهبي فتوا د افغان طالبانو پرضد استعمالول: افغان حکومت څو ځله هڅه وکړه چې په هېواد کې روانه جګړه له مذهبي اړخه منزوي کړي. په دې تړاو یې په کابل کې د علماوو یو کنفرانس راوباله او دغه راز په اندونیزیا کې یې هم د علماوو یو کنفرانس ته زمینه جوړه کړه.

خو افغان طالبان د ملي یووالي حکومت د دې ستراتېژۍ پر وړاندې چوپ پاتې نه شو. د امنیتي تړون د لاسلیکولو په لومړنیو دوولسو ورځو کې په هېواد کې ۹ زوروري چاودنې وشوې (افغان طالبانو د یو شمېر چاودنو مسؤلیت واخیست او د نورو یې رد کړ). ترڅنګ یې د اسلامي همکارۍ سازمان د علماوو غونډه هم رد کړه چې له کبله یې بیا هغه مهال دا ډول جوړېدونکې ناسته ترسره نه شوه او دغه راز د اشرف غني د سیمې ییزې اجماع پرضد افغان طالبانو د سیمې له هېوادونو په تېره بیا ایران، چین او روسیې سره خپلې اړیکې وساتلې.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په بل اړخ کې، له کله چې د افغان طالبانو او امريکا ترمنځ د سولې د راوستلو په تړاو د تړون نهايي کولو پر لور روان و، نو له همغه مهاله راهيسې د اشرف غني تر ولسمشرۍ لاندې د افغان حکومت د امنيت په تړاو پاليسي په لاندې مواردو کې خلاصه کېدای شي:

لومړی؛ په امنيتي ځواکونو بيا سمبالول؛ کې پر ځوانانو او په تېره بيا پر ځانګړيو ځواکونو او هوايي ځواکونو ډېرې اتکاء. له تېرو کلونو راهيسې تر اوسه د کماندو ځواکونو شمېره دوه چنده شوې او د هوايي ځواک شمېره هم درې چنده شوې. له دوو زرو زيات جنرالان او ډګروالان تقاعد شوي دي او د امنيتي ځواکونو رهبري تر ډېره د هغو ځوانانو په لاس کې لويدلې، چې خپل ماشومتوب يې په افغان جهاد او کورنۍ جګړو او بلوغ يې له ۲۰۰۱ کال وروسته نظام کې تېر شوی دی.

دويم؛ د جګړې لګښتونه کمول او پر داخلي عوايدو تکيه؛ له کله چې د امريکا ولسمشر ټرمپ په افغانستان کې د امريکا پر جنګي ستراتېژي نيوکې پېل کړي، له همغه مهاله راهيسې افغان حکومت هڅه کړې، څو د جګړې لګښتونو کمولو پر طرحو کار وکړي او څه ناڅه د ټرامپ اداره اغېزمنه کړي. د دې ترڅنګ، دا چې په امنيتي برخه کې، پر داخلي عوايدو هم تکيه وکړي. د افغانستان د امنيتي ځواکونو د ۵ ميليارډو ډالرو له لګښتونو څخه ۵۰۰ ميليون ډالر لګښتونه افغان حکومت په تېرو کلونو کې ورکړي؛ نور يو ميليارډ ډالر د ناټو په تېره بيا د اروپايي ټولنې او پاتې نور د امريکا له خوا ورکول کېږي. په تېرو څو مياشتو کې، چې کله د امريکا له خوا پر ولسمشر اشرف غني د امنيتي يو ميليارډ ډالرو مرستې له يو ټولشموله حکومت جوړولو سره ونښلول شو، افغان حکومت هڅه وکړه، چې له خپلې بوديجې څخه يو ميليارډ ډالر افغان امنيتي ځواکونو ته ځانګړې کړي.

درېيم؛ د امنيتي لګښتونو په تړاو د مالي مرستو لټون؛ د قطر او سعودي-عربي متحده امارات ترمنځ د سيالۍ له کبله او له سعودي-اماراتو څخه د قطر پر لور د افغان طالبانو تمايل هغه څه و چې افغان حکومت يې له سعودي او عربي متحده اماراتو سره د پخوانيو حکومتونو په پرتله د ملي يووالي حکومت پرمهال ډېر نږدې کړ. د دې ترڅنګ، په سعودي کې د محمد بن سلمان او د محمد بن سلمان د مډرنېزم پديدې راتګ هم سعودي-امارات او افغان حکومت پر يوې خوا کړل. د يو امريکايي امنيتي مسؤل په حواله چې د امريکا کانګرس ته يې د افغانستان د امنيتي حالت په تړاو وينا واوروله، افغان حکومت له دغوو دوو هېوادونو سره پر دې خبرې کوي، څو په مالي توګه له افغان امنيتي ځواکونو څخه ملاتړ وکړي. اوس چې افغان طالبانو او امريکا له افغانستانه د خپلو پوځيانو د ويستلو په تړاو تړون لاسليک کړی، شونې ده، چې افغان حکومت به د مالي مرستو په تړاو خپل لاسونه نورو هېوادونو ته هم وغځوي، په تېره بيا همدې خليج چې يادونه يې وشوه او اروپايي ټولنې ته، چې په ټوله کې يې له امريکا سره اختلافات رامنځته شوي او په افغانستان کې هم د امريکا له نوې تګلارې سره اختلاف لري.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**د افغانستان پورتنۍ امنيتي پاليسي له يو شمېر ننګونو سره هم مخ ده:**

لومړی؛ دا چې په افغانستان کې روانه شل کلنه جګړه د ټکنالوژۍ او هوايي ځواک پرمټ قابو نه شوه آيا ممکنه ده چې د امنيتي ځواکونو د ځوانولو او د کماندو او هوايي ځواک په زياتولو سره به د جګړې په ډګر کې څه لاسته راوړنې ترلاسه کړای شي؟ شايد د افغان حکومت

دويم؛ دا چې د کورونا وباء او تېلو نرخونه وليدلي نو دې حالت د خليجي هېوادونو او لويديځ اقتصاد هم ځپلی دی. اوس ممکنه ده چې په داسې يو وضعيت کې به دغه هېوادونه دې ته چمتو وي، چې په راتلونکي کې هم له افغان امنيتي ځواکونو ملاتړ وکړي؟ د افغان حکومت لپاره يوه بله جدي ننګونه ده.

درېيم؛ د کورونا وباء د افغانستان اقتصاد هم اغېزمن کړی او دا تر ډېره ناممکنه برېښي، چې د افغان امنيتي ځواکونو لګښتونه له دې ځايه پوره کړای شي.

اوسنيو حالاتو ته په کتلو، موږ پتېيلی شو، چې افغان حکومت شايد تر يو کال پورې نور هم په دې موخه صبر شي، چې يا په امريکا کې د اداري بدلون رامنځته شي او يا هم د ټرمپ له ولسمشرېدو وروسته د افغانستان په تړاو د هغه تګلاره بدلون ومومي. له دې وړاندې، د افغانستان په بهرني او امنيتي تګلارو کې د يوه ژور بدلون تمه له امکانه لرې برېښي.

**د سولې بين الافغاني خبرې اترې**

په افغانستان کې د دوامداره سولې او امنيت لپاره يوازينۍ لاره د بين الافغاني سولې خبرې اترې دي، چې بايد د درېيو ډولو لوريو ترمنځ ترسره شي: افغان طالبان، افغان حکومت او غير طالب او غير حکومتي ډلې او ملي شخصيتونه. دا خبرې اترې هغه مهال بريالۍ کېدای شي، که د افغان طالبانو او افغان حکومت په تړاو انګېرنې بدلون ومومي. که څه هم پر افغان طالبانو او افغان حکومت د پاکستان او امريکا اغېزې جوتې دي خو بيا هم، نه هم افغان حکومت د امريکا لاسپوڅی دی او نه هم افغان طالبان د پاکستان.

د افغان تاريخ د وروستيو لسيزو لوست هم همدا دی، چې هر مهال د سولې بين الافغاني خبرې اترې ناکامې شوي هېواد يې د يو نوي بحران پر لوري بيولی دی او جګړه پکې تم شوې نه ده. له بده مرغه د تېرو څلورو لسيزو په تاريخ کې يوازې په يوه موقع کې واک په سوله ييزه توګه بل ته انتقال شوی دی. په نورو حالاتو کې واک يا د کودتاوو له لارې (د سرطان او ثور کودتاوې) او يا هم د بهرنيو په فشار بل ته سپارل شوی دی (له ببرک کارمل څخه ډاکتر نجيب ته د واک انتقال) او يا هم د جګړو له لارې ترلاسه شوی دی (افغان مجاهدين او افغان طالبان). د دې ترڅنګ، له افغانستانه د شورويانو له وتلو وروسته، د مجاهدينو خپل منځي جګړې او د ډاکټر نجيب سره د سولې خبرو اترو نه

شتون هېواد د خونړۍ کورنۍ جګړې خولې ته ټېل واهه. دا ځل یوازینی هغه څه چې په هېواد کې دوامداره سوله او امنیت ټینګولای شي هغه د سولې بین الافغاني خبرې اترې دي.

**د تحلیل اوسنۍ ګڼه؛ مننه او درناوی**

دکرونا په وجه قرنطین او اوسنی وضعیت ته په کتو سره، د تحلیل مجلې اوسنی ګڼه په استثنایي توګه په ډیجیټل بڼه خپروو. په دې ګڼه کې ټولې ( ) مقالې د بهرني سیاست څخه نیولې تر کورني سیاست، ښه حکومتولۍ، تاریخ او سیاسي-نظامي ډلو پورې راغلي دي. په دې ګڼه کې له دې جملې څخه ( ) داسې مقالې هم شته دي چې د نړیوالو اړیکو او سیاسي حقوقو د ماسټرۍ محصلینو زده کړیالانو لیکلي. موږ دا مقالې په دې موخه خپروو، څو په خپلو ملي ژبو کې د خپلو زده کړیالانو ترمنځ د نړیوال سیاست په تړاو څېړنې او تحلیلونه دود کړو.

په پای کې موږ له ټولو هغو لیکوالانو او څېړونکو د زړه له کومې مننه کوو، چې د تحلیل ژورنال اوسنۍ ګڼه یې په خپلو ارزښتناکو لیکنو ونازوله، او وخت ناوخت یې زموږ پوښتنو کروېږنو ته په سړه سینه ځوابونه وویل. دغه راز هیله لرو، چې دوی به له تحلیل ژورنال سره خپله قلمي همکاري تلپاتې وساتي او داسې به د هېواد په دولت-جوړونه کې مرستندویه واقع شي.

درناوي

**احمد بلال خلیل**

د تحلیل ژورنال مسؤل مدیر

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# فکري بحثونه

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# اسلامي ډلې؛ لاسته راوړنې او پرېوتنې

**محمد زمان مزمل[1]**

**لنډيز**

په مسلمانه نړۍ کې اسلامي ډلې له يوې پېړۍ څخه زياته مخينه نه لري؛ خو بيا هم په دې يوه پېړۍ کې اسلامي ډلې ډېرې متنوعې او تگلارې يې تر ډېره له يو بل څخه بېلې وي. په اسلامي ډلو کې توندلاري جهاديان، له توندلارۍ پاک تبليغي جماعت، ډيموکراسۍ او انساني حقونو ته ژمن اسلامي تحريکونه او ډيموکراسۍ ضد دکتاتوري ډلې هم شاملې دي. شايد له دې هم زياتې متنوع وي.

دا چې په اسلامي نړۍ او په تېره بيا د اسلامي ډلو زيږنده په کومو شرايطو کې وشوه او څرنگه جهادي ډلې له اسلامي تحريکونو څخه سر بېل کړ؟ دغه راز اسلامي ډلو له دويمې نړيوالې جگړې راهيسې، په بېلابېلو پړاوونو کې څرنگه تکامل وموند او په خپله د اسلامي ډلو دننه دغه وېش په هر پړاو کې څرنگه ارت شو؟ په دې مقاله کې دا او دې ته ورته پوښتنې ځواب شوي دي.

**کيلي: اسلامي ډلې، جهاديان، اخوانيان، القاعده، طالبان، داعش**

## يو طبيعي وېش

مذهب، سياست او ادب په انساني ميدان کې په طبيعي ډول له و ښاو تعدد سره مخامخ کېږي.

مذهب هغه تر ټولو په مقدس پړاو کې هم د تقسيم ښکار گرځي؛ سياست آن هغه د عروج او د خپل هرم د سر د پړاو په اوج کې د تعدد او وېش مثالونه لري؛ ادب همداسې او تر دې زيات.

هغه مهال چې د خدای پيغمبر صلی الله عليه وسلم د مدينې ايډيال جوړښت خپلو ملگرو ته وسپاره، د دېرشو کلونو دننه قومي تړاو او رابطې پکې د اُموي او عباسي اختلافاتو ريښې وغځولې.

د هارون رشيد، احمدشاه ابدالي او بايزيد په مرگ درې مهمې سياسي امپراتورۍ عباسي، افغاني او عثماني دولت له داسې تقسيم او پېښو سره مخامخ شوې چې په هر ځای کې کم ظرفه ميراث خورو پکې د پرمختگ پر

[1] استاد محمد زمان مزمل د افغانستان د اسلامي نهضت غړی، د حزب اسلامي د سياسي کمېټې پخوانی مشر، او د افغانستان د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د علمي شورا غړی دی. ښاغلی مزمل له تېرو څلورو لسيزو راهيسې د هېواد او اسلامي نړۍ اسلامپالي ډلې په دقت څاري، په اړه يې ليکنې کوي او په دې تړاو د ډېرې مطالعې خاوند او د مېداني څېړنې له لارې د راټولو شوو معلوماتو څښتن دی.

ځای پر تقسیم او برخو راوګرځېد.

پورته مطلب په افغانستان کې د ډلو په منځ کې له بل هر ځای څخه زیات او بدرنګه مثالونه لري؛ د افغانستان د فاتح جهاد اول سباوون یې تر هر ځای زیات تیاره او بدرنګه مثال دی.

انسان چې د مذهب په تفسیر له یوه پلاره او یوې مور څخه پیدا تاریخ لري، هغه دغه طبیعي وېش هومره مسخره ځای ته ښکته کړی چې لا د غوایي پر خدایی، تقدس او خداییتوب(حیوانیت) جدل او جنګ یو طرفه نه شو؛ وایه د یهودو او چینایانو له متضاد دستارخوانه چې د سفر په تنګ ماحول کې آن په یوویشتمه پېړۍ کې هم یو د بل په څنګ کې نه کښیني.

**یو تدریجي انحراف!**

د ژوند هر اړخ چې را واخلو هغه د لومړیتوبونو په بنیاد په داسې مهارتونو او ارزښتونو ولاړ او روان دی، چې د ګټونکي سم او ناسم پکې باید د اختلاف لامل په دې خاطر نه شي چې یا یې یو طرف پکې د ترجیح دلایل لري او یا دواړه طرفه پکې یو مجاز تقسیم ناروا جګړه جوړه کړې ده چې دا او هغه مرجوح طرف پکې د یو انحراف د تدرج پېل دی.

**یوه تاریخي مخینه!**

د اسلام په پېل کې هغه مهال چې بلا ملتونه او د متعددو امپراتوریو وګړي د اسلام په قلمرو کې داخل شول؛ مسایل او د حاکمې طبقې مصالح دا دواړه هغه څه و چې بالمقابل د اسلام د سیاسي نظر په محتویٰ او تشکیل کې د یو بد تعدد نمونه پرېښوده.

هغه د وخت کمکی اختلاف چې د اسلام د سیاسي نقطې نظر په اړه پېښنو او حساسو مسایلو حَساس کړ هغه د لړې مودې په تېرېدو د ملتونو د تمدنونو متفاوت سوچ د سُني او شیعه پر هغه تعدد او اختلاف ودراوه چې پاتې (13) پېړیو؛ نه دا چې حل یې ورته پیدا نه کړ، بلکې هغه د اختلاف د سر ټکی د هر چا له یاده وتلی دی. ځکه چې د پېل په زمانه کې  فتواوو، ټاپو او د دښمنیو دغه بدرنګ رسم نه و.

خدای خبر چې د اسلام په تاریخ کې دغه تقسیم څومره پراخ وغځېد.

**معاصرې ډلې؛ او د سید جمال الدین افغان اُمت ژغورونکی دعوت!**

په اسلام کې د ډلو د پیدایښت بنیاد د خلافت په قضیه کې له اختلاف څخه منبع اخلي. په پېل کې دغه اختلافات د یو اکثریت او د مدینې د پرګنو مخکښو صحابه‌وو اکثریتي پرېکړو ته سر ټیټ کړ او حضرت علی رضي الله عنه د هغه جریان پر وړاندې چې د ده له نظر سره موافق نه و خو لکه یو موافق روان او چوپ پاتې

شو. ولې د وخت په تېرېدو او د عملي اجراءآتو او بیا د خلیفه د تبدېلی په مواقعو کې څه داسې پېښې او اجراءات وشول چې تېر اختلافات یې را ژوندي او د یوې قوي توطئې په لړ کې یې اُمت د شیعه او سني په اختلاف کې ښکېل کړ.

وروسته او په وروستیو نسلونو کې چې د دغه اختلاف د کابو کولو په خاطر باید د اُمت د ګډ مصلحت په خاطر کار شوی وای، د طرفونو مخکښان پکې مزید ښکېل شول او دغو اختلافاتو ته یې هغه مذهبي رنګ ورکړ چې که د سُني طرف مخکښ اتلان امام ابو حنیفه رحمه الله او امام ابو یوسف رحمه الله نه وای، نو د ډلو تکفیر به په افراطي ډول او د اُمت د عملي ټکر تسلسل به پکې هماغسې تود روان پاتې شوی وای.

دا چې مخکښانو پکې د اهل قبله له تکفیر څخه ډډه وکړه او د مخالفانو تعقیب او د تنګولو چانس یې پر نظام او حکمران بند کړ، د دغو اختلافاتو او فتنې اور یې کابو کړ.

د وخت خلفاء او حکومتونو خپل اجراءات درلودل؛ ولې د وخت مخکښ علماء په دې سیاسي اختلاف کې له دغو سره نه وو.

امام ابو حنیفه رحمه الله چې د وخت باوري مرجع وه؛ ولې د  پېغمبر صلی الله علیه وسلم د لمسي پر ضد د حکومت د عکس العمل مخالف و.

په همدې موخه یې له دغو خلفاوو سره له کار او دندې څخه ځان لرې ساته.

شیعه طرف چې په سیاست کې څنډې ته شو. کړاو او پړاو هغو تنګو پرېکړو ته ټېټ کړل؛ ولې سُني مراجعو د سیاسي حکمرانانو پر وړاندې همېشه د مخالفت بېرغ پورته کړی او د امت د تقسیم او فتنو مخه یې نیولې وه.

دا چې اکثریت پکې پر همدې خوا ودرېد او د مخالفت د تحمل تهذیب پکې پر فتوا ودرېد، دا د دیني مراجعو عقلمند دریځ و.

په همدغه بغداد کې چې تر نیمو زیات اوسېدونکي یې شیعه وو، پیړۍ-پیړۍ تېرې شوې چا پکې د شیعه د سُني کولو پروژه جبراً عملي نکړه لکه په صفوي دوران کې چې سُني ایران پر زور شیعه کړای شو او دا هغه هوښیاري وه چې سُني مراجعو د مخالف د نه تکفیر او نه سُني کولو په احتیاط کې د اُمت په ژغورلو کې وکړه.

د عثماني خلافت د سقوط اندېښنه چې تر هر چا زیات لوی سید جمال الدین افغان ورته متوجه شو او بیا په اسیا او افریقا کې د غربي امپراتوریو مداخلې دا دواړه هغه څه وو چې سید یې خطرات تر پېښېدو مخکې درک او د خپل لالهانده ژوند په اوږدو کې د مقابلې هغه بستر وغځاوه چې پر همدې بستر د شهید حسن البناء، امام

مودودي او مولانا محمود الحسن دیوبندي فکري نهضتونه هغه مهال پیدا او جوړ شول چې مسلمانانو پکې هر څه د صفر حد کې بایللي وو.

د پرنګي پر ضد د حساس امیر شیر علي خان په دوران کې د ځوان سید له افغاني امیرانو سره رابطه پیدا شوه او هغه په خپل نبوغ درک کړه چې د پرنګیانو سره مبارزه د مذهب او مذهبي مشرانو توجیه او د ملتونو بېداري غواړي. هغه په دواړو ساحو کې په یوه سر هومره مؤثر کردار اداء کړ چې د وخت عیاشو یا اوباشو حکمرانانو دغه نوښتګر سیاسي مصلح پخپلو هېوادونو کې ونه شو زغملی؛ ولې د سید له افکارو متأثرو شاګردانو نیمه پېړۍ له استعمار سره په اسیا او افریقا کې ژوندۍ مبارزه وکړه.

دا چې له هغه نه سیاسي ډله او ځانګړي میراث خواره پاتې نه شول؛ لامل یې دا و چې هغه په واقعي معنا د یو واحد اُمت د ژغورلو دعوتګر و.

## نهضتي ډلې

که څه هم یوه پېړۍ مخکې په نړدې فاصله کې دوه سیاسي او مذهبي خوځښتونه وو: یو د محمد عبدالوهاب او بل د سید جمال الدین افغان خوځښتونه وو. ولې حقیقت دا دی چې که سید متزلزل عثماني خلافت ونه شو ژغورلی نو په متلاشي اُمت کې یې دغه توانمندي پیدا کړه چې د استعمار نظامي حضور یې په رښتیا بې ثباته کړ چې بیا غرب پکې د غلامو حکمرانانو تر چتر لاندې د شرق او اسلامي نړۍ بله او بده نقشه عملي کړه.

په دویم پړاو کې؛ د سید پر میراثه شهید حسن البنا او امام مودودي د نهضتي ډلو هغه بنیاد کېښود چې نږدې یوه پېړۍ شوه چې دغو غلامو حکمرانانو او د هغوی بادارانو ته یې د سر په کاسه کې اوبه ورکړې.

که څه هم مصر او هند د دغو لویو بزرګوارانو له عمل او سوچ څخه د یوه ازاد هېواد او یوه ملي حکومت د لرلو په برخه کې تر پخوا زیات تیټ ځای ته ولویدل؛ ولې د ملتونو او ګاونډیانو په داخل کې یې په خپله استادۍ او استادانه افکارو هغه وکړل چې سېکولرانو یې له وېرې هغه فلمي دیموکراسي هم نه شي پلي کولای او دا ځکه چې اسلامي نهضتونو د ملتونو د اعتماد او ملګرۍ په اړه هومره پیوند پیدا کړی دی چې سېکولران پکې ایله په پلازمېنو کې محاصره ژوند کوي.

د همدغو دوو ډلو څخه په تأثر په زیاتو هېوادونو کې اسلامي ډلې جوړې شوې بلکې هغه د تأثر په حاشیه کې پیدا ډلو لکه ایران او ترکیه کې په زاره چاودې مقابله کې حکومتونه هم جوړ کړل؛ دا چې دا حکومتونه کامیاب دي او خپلې وعدې یې خلکو ته پوره کړې او که نه؟ دا د بل بحث خبره ده.

په دې مناسبت دا هم باید ووایم چې د دغو دوو ډلو تر څنگ سُنتي مذهبي ډلې هم وې لکه په سوډان کې د مهدي او په هند کې د دیوبندي مشرانو نهضت چې د پرنگیانو په شړلو کې یې لوی رول درلود.

لکه څنگه چې د اخوان المسلمون مور نهضت څخه په نورو هېوادونو کې بلا نورې ډلې جوړې شوې، همداسې د علماوو او پیرانو په مشرۍ په بلا هېوادونو او خپله په افغانستان کې د ظاهرخان پر مهال او بیا د جهاد په دوران کې ډېرى ډلې وې چې په جهاد کې یې رول درلود.

## جهادي ډلې

جهاد په اسلام کې د یوه بانفوذه او مستقر حکومت دنده ده، چې د خدای پېغمبر صلی الله علیه وسلم په مدینه کې د یوه باوره نسل د تربیې او د شرایطو له برابرولو وروسته پیل کړ. دا چې غربي استعمار په هند او افریقا کې بلا هېوادونه په زور ونیول؛ د ملتونو عکس العمل او یا د مذهبي مشرانو عکس العمل پکې په طبیعي ډول د جهاد عنوان واخېست او بیا په دې اړه د مذهبي او طریقت مشرانو په ځېنو ځایونو کې لکه سوډان او افغانستان کې د جهاد بیرغ پورته کړ او پر جهادي ډلو بدل شول.

د ډلو جهاد هغه ضرورت دی چې عیاشو حکمرانانو او مستبدو حکومتونو د بې تفاوتۍ یا سقوط وروسته پیل شو.

که څه هم اصلي خبره دا ده چې جهاد په اسلام کې د یوه بانفوذه مسلط حکومت او مشرتابه وظیفه ده چې د اُمت مصالحې د پېل، متارکې او یا د معاهدو کولو لوری ټاکي.

په دې حساب جهادي ډلې په معاصر تاریخ کې بلا تقسیمونه لري، چې لومړنی تقسیم یې همدا دی چې اوله برخه یې هغه ده چې د عثماني خلافت یا د نورو محلي حکومتونو په دوران کې د استعمار پر ضد پیل شوې لکه په سوډان کې سنوسیان، په هند کې د سوات د پیر مریدان او په افغانستان کې لکه هډې صاحب او نور.

دغه ډلې له یوه ژور سوچ څخه برخمنې وې. د اُمت د ژغورلو خبرې پکې زیاته ملي او مذهبي رنگ درلود او له خپل ماحول سره په یوه درانه پیوند کې روانې وې.

سره له دې چې د وخت حکمرانان وابسته او منتخب نه وو؛ بیا یې هم له هغو سره مشوره او گذاره درلودله.

له امیر عبدالرحمن خان څخه تر امیر امان الله خان پورې په سرحدي قبایلي سیمو کې د پرنگیانو پر ضد جهاد روان و او امیرانو پکې کله کله شکلي مخالفت درلود لکه امیر عبدالرحمان خان پټ په زړه کې له همدغو سره وو او کله کله یې گډه مشوره درلودله لکه د امیر امان الله خان په دوران کې.

د شاه امان الله خان په دوران کې شوروي وغوښتل چې د پرنگي پر ضد په سیمه کې تود عکس العمل ایجاد کړي او هغوی غوښتل چې د امان الله خان پرته او پټ دغه کار مستقیم د جهادي مشرانو سره پروتوکول ته

ورسوي؛ ولې د وخت مجاهدينو پکې د وسلو او پیسو په خاطر د امیر له مشورو بهر دغسې يو اقدام ته د خپل ملي ثبات په خاطر زړه ښه نه کړ.

په دې اړه تیخانوف روسي لیکوال بلا مثالونه او ارشيفي اسناد وړاندې کړي دي او د نن او پرون په جهاد کې همدا توپیر و.

يوه خبره باید وکړو، چې د استعمار د نظامي اشغال په دوران کې بلا ډلې جوړې شوې او مخکښ علماء چې له غرب او پرنګیانو سره په افريقا، اسيا، هند او افغانستان کې جګړې کولې؛ ولې هغوی پخپل ملت کې له حکومتونو سره په ټکر کې نه وې. بلکې د دغو نیمه خپلواکو حکمرانانو سره یې په هغو پټو اړيکو بسنه کوله او له خپلو حکمرانانو سره په ټکر کې نه واقع کېدل لکه د هډې ملا صاحب، د تورنګزو حاجي صاحب، د چکنور ملا صاحب او سید احمد شهید بریلوي.

دويمه برخه د نهضتي ډلو هغه برخه ده چې په مصر کې له حکومت سره د ټکر او یا د ټکر له اتهام څخه پیل شوې.

اخوان المسلمون د شهید سید قطب له نظرياتو مخکې هم په فلسطين او مصر کې د حکومت په ملګرۍ په جهاد کې برخه درلودله او دا د جهاد هغه ښه صورت ځکه و چې مسلمانان په خپلو کې نه اخته کېدل.

جمال ناصر پر اخوان المسلمون په دې خاطر برید وکړ چې فکر یې کاوه اعدام شوو اخوانیانو (شهید سید قطب، عوده ...) او نورو د کودتا او د حکومت د چېلنج کولو نقشه درلودله.

له همدې ځایه د جهادي ډلو تاريخ په مصر کې پیل شو او په افغانستان کې نهضتي ډلې او سنتي ډلې د شورويانو د اشغال په دوران کې مطرح او په نړۍ کې شهرت ته ورسيدلې.

په مجموع کې د شهید سید قطب تفسير او کتابونه د استعمار او اشغالګرو د نفوذ او نفوذي ډلو څخه د نجات په ژور سوچ کې وکولای شول چې د نوې مرحلې لپاره  ځوان نسل د مبارزې الف و باء د يوه ژوندي احساس او برتر صف له جوړولو څخه پیل کړي. دغه خوله ور داعي داسې اصطلاحات وکارول چې د اخوان المسلمون حريف ناصر يې په خطر ځکه پوهېده چې هغوی د ناصر د پرون ملګري او د کودتا شريک طرف و.

هغه مهال د مصر نوی واکمن د دغو سیاسي مسلمانانو پر ضد نور هم وېرېد چې هضيبي د اخوان المسلمون مشر له ناصر سره د ملګرۍ او ګډ حکومت له جوړولو څخه په شا شو او په دې احتياط چې د شرکت په صورت کې به حکومت جنرالان کوي، بدنامي به يې اخوان المسلمون ته راجع وي. څنګه چې هغه مهال دغه ګوند په مصر کې يو تر ټولو قوي ګوند و، د ناصر اندېښنې د مخالفت له سطحې څخه دښمنۍ او ټکر ته پورته کړې او په دې اړه د شهید سید قطب نوي اصطلاحات لکه «جاهليت» او «طاغوت» دا ټول ناصر د ځان او خپل حکومت

پر ضد یو طرفه تفسیر کړل او د غلامو حکومتونو سره د جهاد او ټکر نوی پړاو له دغو غلط فهمیو څخه پیدا شو. د شهید سید قطب له خوا د کودتا خبره چې کېدای شي یوه توطئه وي، دا پکې بیا هم د ناصر لخوا د جهاد په معنا یا د دغه پړاو او د نهضتي مسلمانانو د نوي جهاد د اول ټکر په معنا وې.

په همدې مناسبت باید ووایم چې له فلسطین څخه د مقاومت پېل د قَسام تر مشرۍ لاندې همدغسې یو څه و؛ ولې په مصر کې له دغه فکر وروسته مصر د فلسطین د مقاومت بنیاد او طریقه هم بدله کړه.

یاسر عرفات چې په اول کې یو متدین او مسلمان ځوان و، هغه وروسته د قوي مصر او د ناصر په حمایه کې د سېکولر سوچ خوا وښویول شو.

د شته حکومتونو سره د ټکر خبره هومره چې د شهید سید قطب د نظریاتو یا تر کودتا پورې خلک تړي؛ هغه درې برابره د ناصر د نوي حکومت سره د امام هضیبي د نه همکارۍ او د اخوان المسلمون د گوند پر ضد د ناصر  له بې رحمه موج او عکس العمل څخه پیدا شو، هغه پښتو متل دی: تر څو چې رښتیا راځي دروغو به کلي وران کړي وي.

د اخوان المسلمون د بلا کړاوونو او دربدرېو کېسه همدا د جمال ناصر د تهمتونو او توطئو درواغ تر شا لري او دغو درواغو تر اوسه پورې د مصر د ازادو افسرانو تحریک د رښتیاوو جامه ور اغوستې.

په سینا او نورو عربي نړۍ کې مسلح مقاومتونه ټول د مظلومو پرگنو د طبیعي عکس العمل برخه وه؛ ولې د عربو مستبد حکمرانان همیشه د خپل بام واورې پر مخالفینو غورځوي.

یوازېنی ځای چې اخوان المسلمون پکې د جهاد تر شا ودرېدل هغه افغانستان و او افغانستان هغه ځای و چې له دیوبند څخه نیولې تر جماعت اسلامي  او نورو ټولو اسلامي ډلو پکې د جهاد ننگه په فتوا او عملي مرسته کوله.

**دویم تقسیم، د افغانستان د جهاد پېل**

د ثور له کودتا وروسته او هغه مهال چې د کودتا مشرانو د یو حزبه مستبد حکومت په قفس کې یې احزاب او پرگنې بندې کړې، بلکې هغه د چین پلوه کمونیستانو لپاره یې هم د ژوند او فعالیت دروازې وتړلې. تر دې هم پکې بد دا و چې عملاً د خپلو پرونیو مخالفینو پر ضد د تعقیب بند او د اعدامولو سلسله یې په بې رحمۍ پېل کړه. ملت په یو پراخ ملي مقاومت کې د دغو کودتاچیانو پر ضد مقاومت او ټکر ته ودرېد.

د کودتا پر اول کال په پېښور او ایران کې بلا ډلې جوړې شوې او دا یو ملي ضرورت وو؛ ولې ضیاءالحق په خپل عجیب تدبیر او په یو عجیب تقسیم کې شپږو ډلو ته اجازه ورکړه.

د طریقت د مشرانو لپاره یې دوه ډلې ورکړې:

1. د صبغت الله مجددي په مشرۍ نجات ملي جبهه.

2. د پیر سید احمد په مشرۍ ملي اسلامي محاذ.

د نهضتي مسلمانانو څخه یې دوه ډلې ومنلې:

1. د حکمتیار په مشرۍ حزب اسلامي افغانستان.

2. د استاد رباني په مشرۍ جمعیت اسلامي افغانستان.

دوه نورې ډلې یې د علماوو لپاره ومنلې:

1. د مولوي خالص په مشرۍ د افغانستان اسلامي حزب.

2. د مولوي صاحب محمد نبي محمدي په مشرۍ حرکت انقلاب اسلامي.

څنکه چې د کودتا او بیا د شوروي د نظامي اشغال پر ضد د افغانستان د خلکو، ډلو، گاونډیانو، عربانو او غربي امپرالیستانو د دغو ټولو سیاسي گټو سره غوټه وخوړله.

جهادي ډلې په پاکستان کې د نجیب او کارمل او نورو پر ضد د یوه بدیل څواک حیثیت وگاټه.

د اسلام اباد له اسلامي کنفرانس څخه نیولې چې هلته د ایران مسلمان وزیر قطب زاده د دغو ډلو د مشرانو گډون ته لاره خلاصه کړه د افغانستان جهادي ډلې د دنیا په تاریخ کې اولنۍ ډلې وې چې د ډلو په توگه یې د خپل ملت د تمثیل چانس پیدا کړ او مخالف کابل پکې ورځ تر بله له نظره لوید.

دې طلایي چانس ډلو ته موقع ورکړه چې په پاکستان او ټوله نړۍ کې مرکزونه جوړ کړي.

مخامخ مرستې، داخلي تعلیمي او نظامي ادارې ولري، پوهنتون او مدرسې جوړې کړي، اخبارونه او راډیوگانې ولري.

د افغانستان د جهاد په پړاو کې ډلې په سنتي او نهضتي مسلمانانو ووېشل شوې چې ټولې په خپلو کې بیا سره تقسیم دي.

ضیاء الحق هڅه کوله چې کم له کمه دغه ډلې په یو شکلي ائتلاف کې بین المللي محافلو کې د پتمن شرکت په خاطر راټولې وساتي؛ ولې د هغه په مرگ او بیا د کابل د سقوط پر مهال پاکستان د دغه وحدت په اړه یا قصدي یا هم د خپلې بې توانۍ او یا هم د امریکا د توصیو مطابق دغه وحدت  هغسې چې په افغانستان او سیمه کې د یو باثباته تحول پېلامه شي ونه پاله او جهادي ډلې پکې دربیم تقسیم ته ولاړې.

**درېيم تقسيم؛ پروني مجاهدين د نن تروريستان**

امريکا د شوروي اتحاد د ماتېدو يا کم له کمه په سيمه کې د هغه د نور پرمختګ د مخنيوي په خاطر په يوه محتاطانه تدرج کې د جهادي ډلو سياسي او مادي ننګه وکړه او په جهادي ډلو کې يې د هغو نهضتي ډلو برخه زياته ومنله چې د پاکستان په مشوره هغه د پورته موخو لپاره د امريکا په درد ښې خوړل کېدې.

تېره لسيزه چې اسلامپالو په دنيا کې بيا په اسلامي نړۍ کې په تعليمي ادارو، پوهنتونونو او د ځوانانو په اتحاديو کې خپله برتري ثابته کړه، امريکا د شوروي د تجاوز په دوران کې له دغه سياسي او علمي پرمختګ څخه د شوروي په ماته کې پوره برخه وکړه.

دا چې د شوروي د تجاوز پر ضد په مقاومت کې د اسلامپالانو لويه برخه وه او امريکا خپل سياسي او مادي ملاتړ له دغو څخه سمپاوه. دا د دې معنا نه ورکوي چې له امريکا سره د دغو اسلامپالو د بري د ورځو حساب نه و.

امريکا خپل دوه فکري ستراتيژيک مخالفين په افغانستان کې يعنې شوروي او مسلمانان سره مخامخ کړل او غوښتل يې چې امريکا ته نغد خطر شوروي اتحاد ماته په اول سر کې وګټي او بيا د شوروي اتحاد د ماتې د يقيني کېدو په صورت کې د دويم دښمن حساب له ياده ونه باسي.

د استاد مجاهد صواف په روايت:

امريکا په (65/1364)هـ ش کلونو کې د افغاني ډلو او افغاني مشرانو په اړه په تېر د حزب او جمعيت د ډلو په اړه يوه قوي او پراخه سروې وکړه.

کېدای شي دا سروې يې په دې اړه کړې وي چې د امريکا دا ستراتيژيک ملګري د شوروي اتحاد ماتوونکي کابل ته په تللو د امريکا ملګري پاتې شي او که به دا ډلې په کابل کې د واک په ګدۍ له ناستې وروسته افغانستان يوه اسيايي کيوبا کړي.

تر کومه چې زه فکر کوم د مجاهدينو په منځ کې د دوو ډلو حزب اسلامی افغانستان او اتحاد اسلامي په مطبوعاتو کې او د مشرانو په اظهاراتو کې ډېر څه داسې خپرېدل چې امريکا له دغو څخه او يا د دغو له واک څخه د حذر او احتياط څخه کار واخلي.

د سيد سليمان ګيلاني په روايت:

چې د يو امريکايي مېشتي افغان له خولې يې ويلي چې امريکا غواړي حزب اسلامي د کابل له کمربند څخه بيرون وساتي.

دا هغه څه دي چې معنا يې دا ده چې امريکا د کابل له سقوط څخه ډېر مخکې د ځېنو ډلو او د ځېنو مشرانو د واک ته رسېدو د مخنيوي پوخ تدبير کړی و.

همداسې اصف همايون د ظاهر شاه اوښي د فرانسې د وخت سفير څخه توقع کړې وه چې د کابل د فتحې پر مهال د افغانستان سره له زړه همکاري وکړي هغه مهال سفير ترې گيله کړې وه چې ستا په شان له يو پخواني ډيپلومات څخه مې دا توقع نه وه ځکه د شوروي څخه بعد په افغانستان کې اسلامپال لوی خطر دی.

جهاد چې په ژونديو شعارونو او په تندو دريځونو يې هر څه ژوندي او په سرعت روان وو، هغه همداسې د جهاد په دوران کې د ځېنو مشرانو له سوچ څخه د پرنگي او امريکايي امپرياليزم د تدبير او دسيسو هر څه له ياده ايستلي وو.

ډيری داسې مشران هم و چې په ډاگه يې او د شوروي له سقوط څخه مخکې دا نعرې وهلې چې امريکا به تر شوروي زياته ټوټې کېږي.

له همدې ځايه راځو سر د خبرې ته چې غرب او امپرياليزم د اسلامي ډلو په هکله څه تدابير ونيول او په نوي پړاو کې يې همدا پرونی جهاد په کومه هنرمندۍ پر تروريزم بدنام کړ.

**ژنيوا؛ قلف دهليز او بدلې کېلياني**

د ژنيوا د معاهدې له وروستي پړاو څخه مخکې د شوروي او امريکا مشرانو د افغانستان د پاتې تحول د کابو کولو په خاطر په اروپا په تېره فرانسه کې بلا مشترکې جلسې وکړې، چې د همدغو جلسو په خلال کې څه داسې موافقې وشوې چې افغانستان به بېرته د جنگي او جهادي جذباتو څخه بلکې له جهادي ډلو څخه خلع کوي او د ژنيوا معاهدې دغه دواړه ستر هېوادونه په يوه بله پټه معاهده ودرول چې هغه په کابل کې د مجاهدينو له حکومت څخه مخنيوی او د مجاهدينو په تدريج بدنامول وو.

که څه هم د شوې معاهدې وروسته له مجاهدينو سره تر پخوا زياتې مرستې کېدې؛ ولې دا پکې د هغو ريزرف مرستو څخه چې په پاکستان کې وې؛ پاکستان په خپله طريقه کولې او له همدې ځايه د افغانستان د جهاد په اړه د امريکا او اسلام اباد په نظر کې هم توپير راغی. امريکا د ځان لپاره هغسې افغانستان غوښت چې د بُن په ترون کې يې جوړ کړ؛ ولې پاکستان او سعودي هغسې افغانستان غوښت چې د بلا ناکاميو وروسته يې د مجاهدينو په تش کابل کې جوړ کړ. که څه هم د طالب راغلی حکومت د پاکستان د سياسي هڅو يوه برخه وه؛ ولې د سپتمبر د يوولسمې پېښې لړ مخکې او لړ وروسته تحولاتو وښوده چې طالب که څه هم د پاکستاني علماوو په دوستۍ کې لتاړ و ولې هومره د اسلام اباد وسيله نه وه چې مخالفينو يې تبليغ کاوه.

حقيقت دا دی چې د شوروي اتحاد د ماتې د نښانو له برسره کېدو سره جوخت امريکا د شوروي او نورو مخکښو هېوادونو سره په ګډه پر اسلامپالو د دوو دهليزو سياسي او جهادي دهليزو دروازې قلف کړې:

اول: په اوله درجه کې مخکښو هېوادونو د دې تدبير ونيوه چې د شوروي په ماته نور د جهاد دهليز کاملاً بند او قلف کړي.

په همدې خاطر چې دا دهليز يو قلف دهليز و. د بوسنيا، تاجکستان او د کشمير مسلمانانو د غرب له جفاوو څخه ډېر وځکل.

دويم: او هغه تر اول خطرناک او هغه دا چې د انتخاباتو او ديموکراسي له شرايطو څخه د استفادې او شرکت دهليز دی، په دې معنا چې:

اول: په نښه شويو اسلامپالو ته به موقع نه ورکوي چې آن د انتخاباتو او په ځېنو ځايونو کې د سياسي مبارزې او د ديموکراسی له دهليز څخه ځان واک ته ورسوي. په دې رابطه هم غرب او شرق په الجزاير، په فلسطين، په ترکيه او په مصر کې د انتخاباتي کمپاينو له لارې بري ته رسيدلې ډلې او حکومتونه په خپله طريقه په ډېره بدرنګه طريقه چېلنج کړل.

دويم: دا چې اسلامپال به په ټولو هېوادونو کې د استخباراتي فوکس لاندې راځي او له هغوی نه به خپلو ملکونو او دنيا ته د ګواښ سيايې(شبح) جوړوي.

دريم: دا چې امپرياليستي هېوادونو په يوه ګډه پروپاګنده کې اسلامپال بلکې اسلام داسې تر تبليغاتو لاندې ونيوه چې هغه وسط او معتدلو اسلامپالو هم ځان پکې بايلود.

دې بندو دهليزونو اسلامپال او اسلامي ملتونه په يو ډېر تنګ کمربند کې رامحاصره کړل چې دې تنګ او محاصره حالت په ډلو کې هم انشعابونه رامنځته کړل او هم د عملي ټکر او جهاد هغه مواقع چې د افغانستان د پروني جهاد له شرايطو سره يې ډېر توپير درلود.

په احزابو کې ځېنو ځوانانو چې يو يا څو ځلې پېښور او افغانستان ته د جهاد په دوران کې تللي وو؛ هغوی د جهاد ځېنو مشرانو څخه د افغانستان د جهاد په اړه داسې معلومات او درسونه ا وخيستی و چې ګويا که هغه د دنيا په هر سر کې هماغسې پېل شي همدغسې نتايج به لاسته راوړي.

له همدې ځايه د افغان عربانو تاريخ او په ځېنو هېوادونو کې ټکرونه د همدې معلوماتو او روحيې په تړاو پېل شول ولې په زياتره ځايونو کې له مصر څخه نيولې تر سعودي پورې دا ټکرونه او دا بدلون د جهاد تکبير منزل

ته ونه رساوه. دا په دې معنا چې د بندو دهليزو په دوران کې د جهاد هغه کيليانې چې ځوانانو له ځان سره وړې وې پر هغو هېڅ قلف خلاص نه شو.

په اخر کې بيا هم يوه استثنا په جهادي دهليز کې بيا هم په همدې افغانستان کې د طالبانو دويم مقاومت و چې په ډېر اوږده تاريخ کې يې په يوه فوق العاده استثنا کې خپل هويت وساته او خپل مقاومت يې ښه وپاله او نن بيا هم يوازې په نظامي ساحه کې په يو سر لوړي دريځ کې له خپلې حريفې امريکا سره د مذاکراتو په لسم دور کې  وروستۍ امضاء کوي.

او دويمه استثناء په سياسي دهليز کې او هغه يې په ترکيه کې وکولای شول چې په يوه ښه تدبير، ملي ملاتړ او انتخابات وګټي ولې د توطئو باوجود اردوګان وکولای شول چې د بهرنيانو او داخل له اردو د سرکوزو نامردانه دسيسې تکرار ناکامې کړې.

له دې دوه استثناوو پرته امپرياليزم؛ اسلامي نړۍ هومره پخپلو کې اخته او شاته کړه چې په ډېرى هېوادو کې د دې احساس هم نه کېږي چې دلته د امريکا او غرب پرته څوک د حکم او فرمان خاوند دی او که نه. زموږ نږدې سيمه او عربان يې لوی مثال دی.

دا چې ولې په اسلامي نړۍ کې د بلا مقاومتونو په منځ کې افغانانو ته بيا هم بل نظامي برى په برخه شو. دا زمونږ د مقالې موضوع نده، ولې هومره پکې زده کول پکار دي چې د دې ټولو کارنامو شاته په هر ځل يو ژوندی او متحد ملت دی.

د دې لنډې مقدمې په پای کې ځو د درېيم تقسيم د ډلو انشعابونو او تحولونو خوا ته.

**درېيم تقسيم او سپېره شوي دهليزونه!**

په اسلامي نړۍ کې د شوروي ضد مقاومت د نړۍ ټول سياسي او مذهبي ډلې په يو ډول نه يو ډول تر خپل اغېز لاندې ونيولې او نړۍ په دې حساب ډېره سره نږدې او اوبدل شوې ښکارېده.

ولې د شوروي د لښکرو له وتلو وروسته څو عمده تحولونه راغلل چې په هر لحاظ يې د دغه سياسي غواړېدلی بستر هر څه ور نوي کړل چې هغه تحولونه په لاندې ډول دي:

اول: دا چې د نجيب پر سقوط مجاهدينو د يو بديل چانس په جګړو مسخره کړ او مجاهدين پکې داسې پيکه شول چې له افغانستان  بهر يې د نورو اسلامي ډلو په اړه نړۍ او خپله کوربه ملتونه حساس کړل.

دویم: په عربي سيمه کې استخباراتو او مطبوعاتو په هغو ځوانانو پسې پَل واخېست چې د افغانستان په جهاد کې يې برخه اخېستی وه او هغوی د افغان عربو په عنوان هم تنګ او هم وکړول چې هغوی پاتې هماغه افغانستان ته ولاړل چې نوی طالبانو پکې کابل او درې برخې افغانستان نیولی و.

دریم: په افغانستان کې د مجاهدینو د جګړو پر ضد له کندهاره طالب راپورته شو او په دوو کلونو کې يې کابل او بلا سیمه له هغو څخه په زور خپلې کړې او دا پکې د سُنتي مسلمانانو د امتحان بل چانس شو چې باید د تېرو په نسبت یو ښه امتحان ورکړي.

څنګه چې طالبانو د کابل له نېولو وروسته بیا بیا د مذاکراتو او روغې جوړې پر ځای د جنګ او جنګي حل لاره ونیوله او دا پکې د شوروي، مجاهدینو له جګړو وروسته درېیم جنګ د ملت په لنډ واټن کې پرې وزغمل او ملت د بې وسۍ، فقر او جنګي بدو شرائطو په اخر رمق کې ؤ.

څلورم: د مجاهدینو له بري څخه لږ مخکې او لږ وروسته په  اسلامي نړۍ په تېره مصر، ترکیه، فلسطین او الجزائر کې اسلامي ډلو په انتخاباتو کې برخه واخېستله او په زیاتو هېوادونو کې اسلامپال بري ته ورسېدل؛ ولې غرب د خپلو مستبدو غلامو حکومتونو په ذریعه دغه انتخابات یا چېلنج کړل، یا يې پر ضد کودتاوې تدبیر کړې او یا يې لکه د الجزائر په یوه تپل شوي جنګ ودرول.

په دې ډول اسلامپال د شوروي، چین او روسیې په ګډه همکارۍ په یوه دهلیز کې رابند شول په تېره په عربي سیمه کې نو ځکه زیاتو هغه افغانستان ته مخه کړه چې فکر يې کاوه له هغه ځایه به د شوروي په شان پاتې ځواکمن امپریالیزم هم مات کړي.

پنځم: په دغسې تنګو شرائطو کې طالب ته د مجاهدینو میلمه اسامه په میراث پاتې شو چې امریکا او سعودي دواړو له طالب هاغه تقاضا کوله چې اسامه هغوی ته وسپاري.

څنکه چې مولوي خالص مخکې له دې د سعودي استازی مایوس کړی و، طالبانو هم سعودي ته د اسامه د سپارلو پر مهال له اسامه سره مشوره وکړه.

اسامه چې د استدلال او منطق له مخې ځواکمن ځوان و هغه ملا محمد عمر ته وویل:

ته مې په کومه مسلمانۍ هغه سعودي ته سپارې چې هغه خپله د امریکا لخوا اشغال شوې ده.

په دې اړه وکیل احمد متوکل ته یو بل عرب هغه فرانسوي مجله ورکړه چې په سعودي کې يې د امریکا د نظامي هډو ځایونه پکې په نښه کړي وو.

له همدې ځایه ملامحمد عمر د هغه د تسلیمولو له هوډ څخه په شا شو.

شپږم: په همدغسې یو حساس مهال کې د سپتمبر د (۱۱)مې پېښه تدبیر شوه چې احتمالات پکې لا بګنونکي وو او هغه په دې چې د یو عرب لخوا هومره پېچلي عملیات بیا د دنیا تر ټولو څخه په حساس او کمپیوټري هېواد امریکا کې.

او دا چې دغسې یو کار د کوربه هېواد د استخباراتو له همکارۍ پرته ناممکن دی.

او دویم دا چې خپله د امریکا او غرب زیات محققین په دې اړه شک لري چې دغسې یو کار ښایي د امریکا استخباراتو د امریکا د هغو عملیاتو او موخو په خاطر کړی وي چې امریکا یې په یو مهال د انرژۍ او منابعو دوه غني ماحولونو منځنۍ اسیا او خلیج دواړو ته د نړۍ په همکارۍ یا په چوپ کولو ورسوله.

یوه توجیه پکې د روژیه ګارودي ده. دی وایي:

امریکایي استخباراتو په یوه پېچیده شکل په دغو عملیاتو کې دغسې همکاري وکړه چې ځینو فکر کاوه چې دا د امریکا په داخل کې د امریکا مخالفین دي او دوی ترې استفاده وکړه.

د اسلامي ډلو درېیم تقسیم د همدغسې بد مخ پر ښکته او بدغونې تسلسل له کبله راغی چې امریکا د امریکا په حریم باندې د شوي یرغل پل په اسلامپالو، طالب او په افغانستان کې ځای پر ځای شوې القاعدې ور واړ او ټوله نړۍ د بوش د پاریدلې غصې پر وړاندې او یا د امریکا ملګري شوه او یا یې پر وړاندې چوپ شول.

په دې ډول طالب، القاعده، حزب اسلامي او څه نورې ډلې دا ټول امریکا په همدغه دهلیز یعنې افغانستان او لرو نورو ځایونو کې لکه د جوزا میاشتي بې رحمانه سپري کړل. دنیا او سیمه په دغو ډلو داسې تنګه شوه چې د طالب او القاعدې په تهمت بلا نور بې ګناه او له طالب او القاعدې سره بې رابطې ځوانان یا مړه شول یا تر نن پورې د امریکا په زندانونو کې په یو جوړه کالیو کې بندیان دي.

دا تریخ واقعیت باید ووایم چې د یوولسم له سپتمبر څخه وروسته چې امریکا په دې بند دهلیز کې کوم وحشت وکړ هغه ښایي د دویمې نړیوالې جګړې وروسته په هېڅ ځای کې مثال ونه لري.

امریکا د همدې وحشي سپرې په لړ کې د غرب او د غرب او دیموکراسۍ پر هغو ارزښتونو او برتریو هم پښې کېښودې چې د ساړه جنګ په دوران کې یې د شوروي او کمونېزم په مقابل کې یې د پانګوال بلاک د سیما د تجمیل او ښایست په خاطر په مخکې اچولي وو او د غرب بلاک د همدې ارزښتونو په حجاب کې د خلکو له نظره پټ پاتې ؤ.

که څه هم په همدې دهلیز کې مقابل طرف مسلمانانو هم خپل ارزښتونه او اصول په ډېرو مواردو کې پایمال کړل او له ډیرو څخه په ډېرو ځایونو کې هاغه افراط وشو چې د اسلام دښمنان په همدغو مواردو خپل استدلال او تبلیغات کوي.

**د شوروي تشه او د ناټو د ژوندي ساتلو لپاره شبح اسلامپال!**

په دې کې شک نشته چې د شوروي ماتوونکي مسلمانان بالفعل داسې څوک نه و چې د خپل حریف ځای ډک کړي او یا د امریکا او ناټو سره په حقه او د ژوند په هر میدان کې حریفي وکړي.

ولې بالقوه پکې ډېر هغه څه وه چې باید حریفان یې لارې او گودرې پرې بندې کړي؛ ځکه د اسلامي نړۍ موقعیت، د اسلامي تهذیب کَور او د شوروي د ماتې پاتې مورال هغه څه وه چې د دې بالقوه حریف ډېر کمبودونه یې کېدای شول په کم وخت کې بشپړ کړي وای چې حریفانو همدا چانس ورنه کړ.

په دویمه درجه کې چې زموږ د دې عنوان اصلي ټاپي هم دي او هغه دا چې د شوروي لیولي کلي شوي غرب (پانگوال بلاک یا امریکا او اروپا) بلکې په لنډ تعبیر ناټو د شوروي په ماته نور د متحد پاتې کېدو فلسفه د ماتې خوا روانه وه او په په خپل ماحول کې یې د ناټو د ضرورت ډانچه پخپله د نړېدو خوا روانېدونکي وه.

د روژیه جارودي او استاد ارغندیپور په تحلیل کې د امریکا او اروپا د بیا متحد کېدو او د غرب له خوا د اسلامپالو د گواښ د شبح د تراشلو شاته همدا منطق و. په دې معنا چې دا د غرب پلان شوې دسیسه وه چې د اسلامپالو یا اسلام د گواښ په تراشلو امریکا او ملگرو یې غوښتل چې د پانگوال بلاک له شړېدو وژغوري او ناټو په یوه نوي کَور کې د بل پړاو لپاره خوندي او ژوندۍ وساتي.

منم د امریکا جگړو د ناټو مداخلو او اتلس کلن جنگ هاغسې مؤفق استخدام نه شو لکه دوی چې پلان کړی و. ولې د هماغه بالقوه درېیم ځواک خوا تلونکي مسلمانانو ته یې هغه نوم او نشان ورکړ چې د عراق له خوا د امریکا د ځوابولو دریځ او په لسم دور کې د طالبانو وروستی موافقت به یې ډېر څه رالوخ کړي.

که اسلامپالو په مجموع کې لویو اجنډاگانو ته متعهد زعامتونه درلودلی، د اسلامي نړۍ د دویم ځواک کېدو مزل به د وخت په نیمه کې متحقق شوی و چې ضایعو چانسونو پکې هر څه شاته کړل.

**فاینل پړاو او د متناقضو سیاستونو کړپۍ!**

په وروستي پړاو کې امریکا او بیا د شوروي په غیاب کې اسلامي نیمگړي حریف سیاسي مسایل په نړۍ او سیمه کې هومره پېچلي کړل چې اسلامي ډلې پکې د یو درجن متناقضاتو سره مخامخ شوې او زیاتره یې توان نه لري چې په یو پوخ تدبیر او ژور سوچ کې د دغو متناقضاتو په کړپۍ کې ځانته لاره پاکه کړي.

مثلاً د امریکا په راتگ ډېر گوندونه د وخت جبر له امریکا سره ودرول او هغوی په دې تناقض کې ولویدل چې شوروي اشغالگر وو او امریکا اشغالگر نه ده.

همداسې سیمې ته د امریکا په راتگ کې بلکې په اشغال کې ایران او پاکستان په لږ تفاوت مخامخ او رغنده همکاري وکړه چې دغه همکاري په شریعي لحاظ هماغه فتوا لري چې طالبان یې په افغانستان کې ملاتړي په ترخه جزا دروي. دا نو یو متناقض سیاست دی.

د ایران او پاکستان مشران ملایان چې د افغانستان حکومت په څه محکوم او گرم گڼي هغوی پکې د خپلو حکومتونو له ټیټ کردار او د امریکا له ملاتړ او استفادې سترگې پټوي.

همداسې چې په خپله د طالبانو په سیمه ییز تحریک ور شو د طالبانو کیڼ اړخ چې پاکستاني طالبان دي هغه د پاکستان حکومت او د پاکستان اسلامي ډلې؛ نه طالب مني او نه یې ننگه کوي چې دواړه یې سوال پارونکي دي چې خپل نشې زغملی نو پر نورو یې ولې تپې.

د افغانستان طالبان د یوې دشوارې فیصلې پر وړاندې ولاړ دي. کوم سیاسي سوچ چې هغوی په مخه لري په هغه کې له هغوی سره نه د پاکستان ملا او ډلې او نه د عربانو زیاتې اسلامي ډلې موافقې دي.

خبره دا نه ده چې په دې د متناقضاتو په کړیې باندې به یوازې د طالب لار وي بلکې دا تېر مسائل چې وویل شول په دې کې زیاتره اسلامي ډلې د یوې جامعې فیصلې او د یوه صحیح مسیر ټاکلو له سویې څخه په ټیټه کې دي، په تېره که مذهبي اجماع پکې شرط وگڼو په دې معنا چې دا ستونزه د دې پړاو د ټولو ډلو ده.

له همدې ځایه په پاکستان او افغانستان کې قابل ملاحظه عدد ځوانان سېکولر او نشنلیزم خوا وښویدل.

**فاینل ته پاتې حریفان!**

د نیمې پېړۍ سرخوړی اخ و ډب چې اسیا یې د اروپا او امریکا د اشغالگرو کوربه کړه، د دغه اخ و ډب فاینل ته ایله څلور ډلې پاتې شوې.

د شوروي د جهاد په دوران کې چې د نړۍ زیاتې اسلامي ډلې پخپلو کې سره نږدې شوې او په فکري لحاظ پر یو محور د راټولیدو په حال کې وې، د صدام په گټه د لاهور غونډه یې څرگند مثال دی.

د سپتمبر له یوولسمې وروسته بدو راغلو شرائطو دغه ډلې سره شل، شل کړې.

بیا هم په لاندې بحث کې ځو د فاینل حریفانو ته:

**اول طالبان:**

طالبان چې د یوه ملي غبرگون په عنوان په کندهار کې د دربیو ډلو ځوانانو او مجاهدو طالبانو په گډ دریځ او گډ غبرگون کې رامنځته شول، هغوی د نړۍ په تاریخ کې یو موړ ایجادونکې ډله وه.

د دغو عزیزانو پیدایښت له یوې محلي انگیزې څخه پیل شو چې هغوی غوښتل په کندهار کې د مسلطو مجاهدینو له جبر او ظلم څخه کندهار وژغوري او په دې رابطه د هغوی عاجل باور پر هغه ملا محمد عمر راغی چې هغوی د جهاد په دوران کې ښه پېژاند.

د دغه عکس العملي تحریک پر وړاندې ډلو او ملت متفاوت دریځ ونیوه. د احزابو په سلسله کې د مولوي خالص، مولوی محمد نبي او د محاذ ملي ډلو دغو ټولو ورته د تحول او مثبت تحول امید درلود. د کابل د وخت حکومت او یکې ډلو په ابتدا کې د طالبانو قوي ملاتړ وکړ ترڅو محاصره کوونکی حزب اسلامي پرې له شا وځپي.

حزب اسلامي مشران او خپله په کندهار کې سرکاتب صاحب ورسره په ډغره کې ولوېد چې هم یې سرکاتب او هم په چهاراسیاب او سروبي کې د هغوی مرکزونه په لنډ واټن کې په شا کړل.

ملت په مجموع په تېره په پښتون مېشتو ولایتونو کې نه دا چې ورسره ملگري شو بلکې له مجاهدینو څخه د مایوسۍ په خاطر یې طالبان تاوده استقبال کړل.

که طالبان لکه څنگه چې د یوه اصلاحگر ځواک په ډول مطرح شول هماغسې اصلاحگر پاتې شوي وای او د طالب یو حزبه چتر په کابل او افغانستان نه و غوړیدلی او له مجاهدینو سره یې د کابل له نیولو وروسته مذاکرات پیل کړي وای، طالبانو به د افغانستان په تاریخ کې د خلقیانو شرائط او د مجاهدینو بایللي چانسونه پر هغه فتحه درولي وای لکه گاندي او منډیلا یې چې په خپلو ملتونو کې مثال ورکړی و.

طالبان د څو مثبتو ځانگړتیاوو تر څنگ له داسې ځوانانو څخه جوړ تحریک و چې د تجربو له مخې او بیا سیاسي تجربو له مخې بلکې اداري تجربې له مخې هم تر نورو ډېر شاته و. دا بېله خبره ده چې ملت د هغوی ننگه او ملاتړ وکړ او هغوی د دې ننگې او ملاتړ په معنا پر وخت پوی نه شول او خپلو ساده او یوه ستوو تجربو ورځ تر بلې پر هغه سقوط ودرول چې ځان او ملت ته یې د یو بل اشغالگر د کوربتوب شرائط برابر کړل.

**طالبان دویم پړاو:**

د امریکا په راتگ د طالب صفحه د ډېرو له نظره ټوله شوې ښکاربده؛ ولې دا د طالب د حریف او د امریکا او د غرب غیر مهذب تعامل و چې طالب یې تر پخوا یوې بلې غوښې جگړې ته ودراوه چې تر ډېره د طالب دویمه جگړه د شوروي د اول مهال د جگړې سره پرتله کیدای شي بلکې د اشغالگرو لخوا تر هغې هم سپوره او ستوغه.

طالبانو دا ځل جګړه په بله طریقه پیل کړه. مجبوریت او بې وسۍ تر ښخوا زیات سیاسي کړل او نن خو ډېر خلک همدا یوه خبر کوي چې په طالبانو کې ډېر بدلون راغلی؛ خو دا طالبان دي چې د دې بدلون ثبوت به ورکوي، نه د خلکو اند او تصویرونه.

**دویم حزب اسلامي:**

حزب اسلامي افغانستان د یوې اوږدې ګوښې غیاب وروسته د امریکا په راتګ بیا له سره د طالب تر څنګ په فاینل لوبه کې شامل شو. یو څه چې د حزب اسلامي په کردار باید حساب وکړو هغه همدا چې په دویم پړاو کې یې لاره په اسانۍ بدله کړه ولې تر هغه چې د حزب اسلامي کردار په فاینل لوبه کې ترازو ته وغورځوو تر هغه لویه پکې دا ده چې د امریکا په دوران کې په افغانستان کې چې د مقاومت وتلي بېلګه ځایونه دي په هغوی کې زیات یې هماغه د شوروي مهال د حزب د مقاومت ولسوالۍ او ولایات دي او دا یوې دقیقې سروې ته ضرورت لري.

**درېیم القاعده:**

د القاعدې مفکوره کېدای شي د سعودي په حرمینو کې اسامه د هغو کمو ملګرو سره بحث کړې وي، په دې معنا چې اولنۍ زَړی یې په هماغه مهال کې ایښودل شوی وي.

ولې د شوروي ضد جنګ او بیا پکې د مقاومت سیاسي پلازمېنې پېښور او د هغه عظیم جهاد کوربه قلمرو افغانستان حاشیه او متن دواړه د دغې مفکورې عمل ته د ایستلو دویم پړاو وګڼو.

د القاعدې پیدایښت اصلاً پر فلسطینانو او پر فلسطینو ښځو د اسرائیلو د مظالمو او په عربي هېوادونو کې د امریکا د اسرائیلي پلوه پالېسیو او پر عربانو د امریکا له خوا د مستبدو نظامونو او کورنیو پر ضد د عربي ځوان کهول د مخکښ اسامه هغه بې چوکاټه غبرګون دی.

دا چې عربي ځوانانو یو بې وسي هېواد افغانستان د شوروي پر ضد په مقاومت بریالی ولید، هغوی پکې له یوې خوا د کمترۍ په احساس اخته شول چې مونږ تر (۱۴) زیات عربي ملتونه ولې دا یوه پېړۍ د اسرائیلو او امریکا د مظالمو څپېړې پر مخ خورو چې هر عربي هېواد د افغانستان په پرتله غني او توانمند دی.

القاعدې پدې اړه دوه لویې غلطۍ وکړې:

**اول**: او هغه دا چې د سپتمبر یوولسمې وښودله چې عربانو په اشتباه د جنګ کرښه د نړۍ په وسعت پراخه کړه چې بین المللي جنګي ائتلافونه یې مدیریت نشي کولای پاتې عرب ځوانان خو پر ځای پرېږده.

**دویم**: د القاعدې د مشرانو د تحول بستر هم د جنګ د کرښې نیم برابر و، په دې معنا چې هغوی په یو وخت کې د ټول غرب او ټولو عربي هېوادونو کې د بدلون لپاره راپورته شول.

القاعده د طالبانو په وسیله په افغانستان کې پخپل قوي حضور غوښتل چې د دغه پراخ تحول او لوی جنګ لپاره افغانستان د خېز یوه ډاډمنه تخته جوړه کړي؛ ولې هغوی په دې غلطه محاسبه کې نړۍ ټوله داسې وګواښله چې دغه د طالب د خېز تخته افغانستان یې د طالب تر پښو لاندې هم وایست.

طالبان چې وروسته د امریکا د تجاوز وروستي خشونت بیا پر جنګ مجبور کړل او هغوی د خپل افغانستان په اړه یوې هیلمندۍ ته ورسېدل، هغوی د القاعده د پراخې کرښې جنګ او تر توان لوی تحول پلوي القاعدې څخه په دې پلمه ځان راټول کړ چې هغوی نور له افغانستان څخه پرته په عربي لویه سیمه کې د کار، عمل او پناه ځای پیدا کړی دی.

څنګه چې عربي رژیمونه د نړۍ په سیاست کې له ناصر وروسته ټول یا زیات د امریکا پورې لکه د رېل ډبې تړل شوي بې خاصیته حکومتونه دي. القاعده او بیا په دویمه درجه کې داعش هم د خپل بستر عربي ټیټې اوضاع څخه په تأثر د یوه پوخ تدبیر او یا د یوه ښه اغاز له تدبیر راکښته روان شو.

نن چې ایران د دغو هېوادونو سره پرتله کړو، نو د ملتونو او حکومتونو دواړو په حساب یې پرتله همدا تفاوت دی چې فاحش تفاوت هم دی.

ایران د امریکا، القاعده او امریکا او صدام له ټکرونو څخه په استفاده وکولای شول چې خپل حریف عربان په یوه سیاسي هنرمندۍ کې په یوه شیعه کمربند کې چې د ایران، سوریې، عراق او لبنان څخه عبارت دي، محاصره کړي؛ ولې عربي دولتونه له یوې خوا له خپلو ملتونو سره د عربي بهار په ټکر کې او القاعده او داعش په بل مخ کې له دنیا او خپلو حکومتونو سره په ټکر کې د بلا جګړو وروسته ښکاري چې هغه د صدام د وخت ثبت هم پخپله مات کړل او نن عربي سیمه د همدغو دواړو جبهو د خامیو له لاسه د درېیو حریفانو په منځ کې نه پوهېږي څه وکړي (ایران، امریکا او اسرائیل).

اردوګان چې په یو قوي تدبیر کې د عربانو په منځ کې د یو ثبات لپاره قدم پورته کوي عربي حکومتونه په کمال بې تدبیرۍ کې هغه تر اسرائیل او ایران لا بد ګڼي او دا د عربانو خامي ده.

**څلورم داعش:**

زه خپله د بلا مطالعې وروسته بیا هم عاجز یم چې د دغه تحریک په اړه پاخه او مستند معلومات وړاندې کړم.

ولې تر کومه ځایه چې ایران د امریکا د نقشې او ګټو په دننه کې سني اکثریت په عراق او سوریه کې وځاپه امریکا او مخکې لندن په سوریه کې د خپلو ملګرو له حمایو څخه شاته شول.

کېدای شي د سعودي مشرانو غوښتل چې په عراق او سوریه کې له مقاومت پاتې سني اکثریت بیا له سره په هماغه قبائلي جذبه او چوکاټ کې تنظیم کړي چې یوه پیړۍ مخکې ملک عبدالعزیز پکې قبائل د جزیرې د یو کولو لپاره راټول کړي و.

که څه هم د عراق او سوریې مظلومو پرګنو په پېل کې دغه چوکاټ ته په یو جفت و طاق تدبیر کې ور ترپ کړل او په پېل کې په یو نابېره ډول د داعش په عنوان د سیمې یوه لویه برخه یې تر کنټرول لاندې ونیوله ولې له بدمرغه دغه تحریک د القاعدې دوه برابره سیمه په تشدد او د پراخ او ګواښونکي جنګ پر کرښه ودروله.

پای دغه تحریک له داخل نه خشونت او له شا نه د سعودي او خلیج په شا کېدو او له بهر ددغه تحریک پر ضد د ټولې راپاریدلې نړۍ بند په بند مات کړ.

یوه وړه سروې او د افغانستان او عربي جنګي سیمو په منځ کې ښیي چې هغه وحشت چې په یمن ،سوریه، ،عراق او لیبیا بلکې بوسنیا کې وشو د هغه لسمه هم په دغه افغانستان کې ونه شو او ددې لوی لامل دا دی چې عربان دا یوه پیړۍ د داسې مستبدو حکمرانانو لاندې ژوند کوي چې ملتونه یې په دغه بد تسلسل کې د مثبت سوچ او متوازن عمل هر څه له یاده ویستلي دي.

د مثال په ډول په افغانستان کې د دغې امریکا لخوا جوړې شوې اردو بار بار خپل ملي عکس العمل د امریکا پر ضد ښوولی دی.

همداسې بار بار د امریکا او یا د اردو په عملیاتو باندې د سیمې ولسوال، والي او وکیل کله کله داسې نېوکې کوي ته به وایې هغه طالب دی؟!

داسې مواقف په عربي سیمه کې نه لیدل کیږي.

**وروستی نچوړ،**

**او د میز او میدان د لوبې وروستی پړاو!**

د بندو دروازو یوه بده نتیجه دا شوه چې مسلمانان یې پخپل منځ کې په افراطي او متعدلو ډلو وویشل او د اعتدال د مترکې په خاطر ډیری پکې له امریکا سره ملګري شول او ډیری د اسلامي دنیا په یو ټیټ روان مظلومانه مسیر کې چوپ پاتې شول.

بلکې اسلامي ډلې داسې سره تقسیم، بې رابطې بلکې د اجنډا او موخو په تناقض کې وغورځیدې چې اسیا او افریقا ته د راغلي غرب مقابلې ته ایله طالبان، القاعده او حزب اسلامي او بیا هغه داعش پاتې شو چې مخکښان یې هغه د ملتونو او کورنیو نه شکیدلي عربي ،ازبک ،ایغور ،چیچنایان و.

که څه هم په عربي سیمه کې د سراسیمه نظامونو په ګډوډۍ کې القاعده او بیا داعش ښه چانسونه پیدا کړل مګر دغه جذباتي کسانو هومره ماحول او لرې نړۍ او په نړۍ کې هر څوک د ځان پر ضد وپارول چې خپلو اشتباو او خامیو یې تدبیر هم ورمات کړ.

دا چې طالب د پاکستان تر څنګ ایران او بیا تر هغه وروسته روسیه، چین، ازبکستان او بیا په خپل هېواد کې له خپلو پرونیو مخالفینو سره د تفاهم دروازې وټکولې طالب پکې د دغو مخکښو په نسبت هوښیاري وکړه.

ولې دا چې نن طالب له امریکا سره پخپلو مذاکراتو کې مخکې تللی هغه پکې تر دې څه زیات ته ضرورت لري او هغه دا چې د خپل هېواد او خلکو په نسبت زیات متفاهم او سیاسي شي.

دا چې نن طالب په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ د یو لوی بین المللي ائتلاف مخې ته ودرید، اتلس کلنه جګړه یې د خپل لوی حریف په مقابل کې مدیریت کړه او نن یې په افغانستان کې د امریکا سره د دایمي روغې جوړې خبره ښه ځای ته رسولې دا له طالب څخه د هیلې دوه برابره لویه خبره ده.

ولې طالب باید پوه شي چې دا روغه جوړه او هر څه د امریکا د تفاهم سره غوټه کول او له کابل سره د مذاکراتو نه دا افراطي پرهیز چې نن د طالب په اظهاراتو کې لیدای شي دا هغه څه دي چې طالبان باید میدان له میز سره پرتله نکړي د طالب مخکې مجاهدینو د میز میدان لوبه ورته ګټله او د میدان ګټلي یې په سیاست او د سیاست پر میز وبایلل.

مجاهدینو پرون د احسان مند پاکستان او اشغال شوي افغانستان د ګټو او ایجاباتو په منځ کې سمه لاره پیدا نه شوای کړای.

له همدې ځایه طالب مشران باید پوه شي چې د ښویدو ځای همدا د سیاست ډګر او دلته د پاکستان او افغانستان د روان کشمکش په منځ کې د یوه خپلواک او سولییز افغانستان فیصله پرته ده هغې ته رسیدل تر پروني مجاهدینو زیات سوچ او متوازن تدبیر غواړي او دا امتحان د طالب په مخکې پروت دی.

طالبان باید د پاکستاني طالب پر ضد د پاکستان د غوڅ او بې رحمه دریځ او بیا د پاکستاني او افغاني طالب پر اړیکو د نظامي ساطول راکښته کېدو د سیاست ډېر څه زده کړي او یا دا چې د طالب مرکز وزیرستاني مشران او پرګنې چې پدې لار کې قرباني شوې د هغې پېچیده لوبې برخه ده چې یا د اکثره اسلامپالو سر پرې نه خلاصیږي او یا یې په بدو پایلو بې مسؤلیته او سرسیرن تېریږي.

طالبان پر خپل راغلې لاره باید ډېر سوچ ونکړي او طالب مشران باید پر پاتې لاره ډېر سوچ وکړي پاتې لاره چې سیاست او پر میز گډې ناستې او له حریف سره چنې یې مقدر ټاکي چې هلته د معقولو غوښتنو او د معقولو فیصلو جغرافیه ټاکل د عقل خبره ده نه د همت او د ټوپک د شپېلو.

بیا هم په اخر کې د اسلامي ډلو او جهادي ډلو په اړه دومره ویل پکار دي چې په افغانستان کې د امریکا د مداخلو او د وروستي ځل لپاره او د خلق و پرچم، مجاهد او طالب وروسته د غرب د دیموکراسۍ یارانو هېڅ شی بدل نشو کړای او اوضاع هماغه د نجیب د دوران پر کرښه ده او افغاني مذاکراتو ته یې د لاینحل افسانه انتظار باسي.

بیا هم د اسلامي او جهادي ډلو په نمائندگۍ طالبانو وکولای شو چې وروستۍ اوږده مایوسي او ماتې په یوه نوې امیدوارۍ ودروي چې په قطر کې به یې د طالب پوخ یا خام تدبیر قیمت ټاکي.

Center for Strategic and Reg

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# محورهای وحدت اسلامی در اندیشه سید جمال الدین افغانی

معاون سر محقق عبدالرحمن حکیمزاد[2]

محققاً سید جمال الدین افغانی را می توان شخصیت فرامرزی خواند؛ شخصیتی که به گفتۀ خودش وطنی ندارد، زیرا اندیشۀ والا، فعالیت مداوم، سفرهای پیهم و روابط گسترده اش با طیف های مختلف جهان غرض اشاعۀ افکارش، ویرا نسبت به دیگران متبارز کرده است.

سید جمال الدین برخلاف کسانی که هم و غم شان تمرکز در یک عرصۀ زندگی می باشد، جهت همگانی سازی اندیشه و محورهای کاریش، میدانهای متعددی را می پیمود، هم زبانش را بخاطر زدودن سیطرۀ استعمار و جهل و خرافات از جامعه به کار می برد و صدای رسایش در هرجا بلند بود، هم قلمش پیوسته در حرکت بود و با نوشتن نامه ها به شخصیت و حکام اثرگذار، مقالات در جراید و مجله ها و کتابهای بیدارگر را می نوشت و هم شاگردان متعددی را تربیت نمود که در تمام فراز و نشیب دعوتش، همکار وی بودند.

موصوف آوانی دست به کار شد که جهان اسلام آماج تهاجم و تهدیدات همه جانبه قرار گرفته و استعمار اکثریت کشورهای اسلامی را در چنگال خود گرفته بود، حاکمان بوالهوس و وابسته به استعمار در اریکۀ قدرت بودند و جهل و نادانی و بی تفاوتی بیداد می کرد.

در چنین اوضاعی سید جمال با اتکا به الله متعال و کارگیری توانایی هایش در برابر تمام این نابسامانیها قد علم کرد. درین تحقیق محورهای وحدت اسلامی در اندیشۀ سید بطور مختصر به بررسی گرفته شده است:

## دیدگاه و رسالت:

**سید جمال الدین افغانی بانی طرح وحدت اسلامی در عصر حاضر:** سید جمال الدین وقتی مشاهده کرد که مسلمانان در هر جا چون گوسفند بی صاحبی طعمۀ بیگانگان می گردند؛ برای رهایی آنها از این وضعیت، آرامش را بر خود حرام کرد و شب و روز کوشید تا مسلمانان را از پراگندگی و پریشانی خلاص کند و عزت از

---

[2] ـ عضو کادر علمی معاونیت اسلامی اکادیمی علوم افغانستان

دست رفتۀ شانرا باز یابد. به این منظور با استناد به آیات قرآنی و احادیث نبوی نخست به ذهنیت سازی جامعه پرداخت و هر جایی که مناسب می دید پیام خود را مطرح می کرد، چنانکه در مجلس حزب الوطنی مصر به اهل مجلس گفت: سه چیز هست که قلب هیچ مسلمانی در آن غش نمی ورزد: خالص سازی عمل برای خدا، اندرز و خیرخواهی برای اولیای امور مسلمین و پیوستگی با جماعت آنان. خون مسلمانان باهم برابری می کند، بدون در نظر گرفتن نژاد، طبقه و ... خوردترین آنان نگهبان و ذمه دار بزرگترین آنان است، مسلمین همگی یک دل و یک زبان بر ضد دشمنان دین هستند. (1)

می بینیم که علامه اقبال که متأثر از اندیشه های والای آن بزرگوار است، ایدۀ سید را اینگونه به نظم آورده است:

نه افغانیم و نه ترک و نی تتاریم<br>
چمن زادیم و از یک شاخساریم<br>
تمییز رنگ و بو بر ما حرام است<br>
که ما پروردۀ یک نوبهاریم (2)

مطالعۀ روزگاری که سید می زیست و رکود همه جانبۀ مسلمانان با طبقات مختلف شان، این را به خوبی می رساند که نخستین کسی که جرقۀ آزادی و و حدت را بلند کرده است، سید جمال الدین افغانی می باشد طوریکه مرتضی مطهری به آن چنین تأکید دارد: ظاهراً نخستین بار ندای اتحاد اسلام در برابر غرب را سید جمال الدین بلند کرده. منظور از اتحاد اسلام، اتحاد مذهبی که امری غیر عملی است، نبود؛ منظور اتحاد جبهه ای و سیاسی بود؛ یعنی صف واحد در مقابل دشمن غارتگر. (3)

**موانع وحدت اسلامی:** قبل از اینکه محورهای نظری و عملی سید جمال الدین در پیوند به وحدت مسلمانان را به بررسی بگیریم بهتر است موانعی را بشناسیم که جلو وحدت و اتفاق مسلمانان را می گرفت و آنان را متشتت نگه می داشت.

مهم ترین موانع سر راه وحدت مسلمانان از دید سید جمال الدین چهار چیز است:

**مانع اول:** استبداد داخلی: رشد فکری سید جمال الدین مقارن به زمانی است که اکثریت کشورهای اسلامی به شمول زادگاهش افغانستان از سوی رهبران خود کامه، مستبد و بوالهوس رهبری می شد و شهروندان آن از تمام حقوق انسانی محروم بودد. این در حالی است که اروپاییها با آزادی و آزاد اندیشی خویش به قله های علم و فرهنگ دست یافته و مدیریت اصلی بسیاری کشورها را عملاً بدست گرفته بودند.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

سید جمال الدین وقتی مظلومیت مردم و استبداد حاکمان را مشاهده کرد، سکوت را شکست و به بیداری مردم و توصیهٔ حکام پرداخت که این وضعیت عکس العمل حاکمان را بر افروخت و بخاطر رهایی از سید ویرا تبعید کردند. اینجاست که سید جمال با زندگی آسایش و راحت وداع می گوید و چون مسافر با مسؤولیت شهر به شهر به بیداری اُمت به خواب رفته می پردازد.

سید جمال وقتی اوضاع افغانستان پس از سقوط کابل بدست شیرعلی خان را که روابط نزدیک با انگلیس داشت، مناسب دعوتش ندید چون مانع این می شد که وی آزادانه به فعالیت های سیاسی و فکری خود بپردازد، به بهانهٔ رفتن به سفر حج به هندوستان رفت و در آنجا به فعالیت های دعوتی اش پرداخت. ملاقاتهای مردمان سیاسی و علماء و فضلاء با سید جمال الدین افغانی انگلیسها را وارخطا کرد لذا نخست ویرا در حصر خانگی قرار دادند و سپس تصمیم گرفتند که سید را توسط کشتی به سویس انتقال دهند وی از آنجا نخست به مصر رفت و مدتی بعد به مرکز خلافت عثمانی؛ آستانه رفت.

وی در ترکیه علاوه بر سخنرانی در مسجد بزرگ محمد فاتح، حلقه های درسی ای را تشکیل می داد و فضلای زیادی چون علمای دین و صاحب منصبان دولتی  گرد وی جمع می شدند و از سخنان وی فیض می بردند. از همین رو رهبران مذهبی سنتی به وی رشک بردند و ترسیدند که مبادا نیرومند شدن حضور سید جمال الدین در پایتخت سلطنت عثمانی، موجب زوال نفوذ و جایگاه اجتماعی آنها و دور شدن شان از قدرت شود. علاوه برآن، عقل گرایی و اندیشه های نقاد ویرا، خطری برای اندیشه های جامد و خرافاتی و تأویلات خنده آور خود دیدند. (5)

سید وقتی غرق بودن علماء در خرافات را دید که بخاطر از دست ندادن قربت خود نزد سلطان به تهمت زدن علیه وی پرداختند، باری در یکی از سخنرانی هایش به این شعر استشهاد کرد:

علم حق در علم صوفی گم شود

این سخن کی باور مردم شود.

در ماه رمضان سال 1278هـ- ق به اثر تقاضای مدیر دارالفنون در بارهٔ ارزش یادگیری هنر و صنعت سخنرانی کرد و جهان را به جسم انسان تشبیه کرد و گفت: گیتی جسم زنده ای است که دارای اعضاست و از روح جهان سخن زد و افزود که روح جهان حکمت و فرزانگی ای است که با تلاش و کوشش بدست می آید یا نبوتی است که خداوند کسی را که بخواهد به آن ممتاز و مفتخرش می گرداند.

این سخن و امثال آن بهانه به دست مخالفان سید داد و باعث شد که علیه وی دست به توطیه زنند و کتابهایی در رد وی بنویسند که گویا سید جمال الدین عقیده دارد که رسالت و نبوت با تلاش و کوشش بدست می آید.

سید جمال الدین در برابر این تهمت ناروا کاسهٔ صبرش لبریز شد و خواستار محاکمهٔ مقامات بلند پایهٔ سلطنت عثمانی از جمله شیخ الاسلام گردید؛ مردم به دو گروه تقسیم شدند تعدادی از وی طرفداری می کرد و تعدادی دیگر برضدش سنگر گرفته بودند. سلطان عبدالعزیز از سید جمال الدین در خواست کرد که برای اینکه بحران از بین برود و آشوب و غوغا فرو بخوابد، از آستانه به جای دیگری برود. سید جمال هم درخواست سلطان را پذیرفت و عازم مصر شد. (6)

چون به مصر رفت در آنجا در کنار تدریس و تربیت شاگردان در منزلی که از طرف دولت برایش داده شده بود، به تأسیس حزب میهنی آزاد همت کرد و از طریق همین حزب شعار مصر برای همه مصریان و مبارزه علیه استبداد را به را ه انداخت. وی به همکاری اسحق ادیب روزنامهٔ مصر در اسکندریه را به نشر رساند که مقالات پیهم را در آن به اسم مستعار "مزهر بن وضاح" به چاپ می رساند که مورد قبول دانشمندان قرار گرفته و از نشر آن احساس خوشحالی می کردند. همانگونه که حاکمان از محتوای جالب این مقاله ها شگفت زده شدند. (7)

فعالیت های گستردهٔ سید جمال الدین روح تازهٔ را در فرزندان امت اسلامی دمید و سکوت در برابر استبداد را شکست و در جای جای جهان اسلام در کنار مبارزه با اشغال به آزادی از اسارت داخلی نیز قدمهایی بر داشتند که سلسلهٔ آن تا امروز نیز دوام دارد.

**مانع دوم-** استعمار خارجی: سید جمال الدین با سفر های مسلسل خویش به کشورهای اسلامی در بند استعمار و کشورهای اروپایی، ملتفت شد که وجود استعمار در جهان اسلام به مثابهء بیماری مزمنی است که تار و پود مسلمانان را از بین می برد. بنا برین مبارزه در برابر استعمار را سر لوحهٔ کارش قرار داد. او، یکی از نخستین کسانی است که راه بیرون رفت از نابسامانیهای موجود را در اتحاد و همبستگی جهان اسلام در برابر استعمارگران می دانست و در این راه به تلاش و کوشش بسیار دست زد. دانشمند مبارز مصری؛ شیخ رشید رضا درین مورد می نویسد: نخستین فریادی که در این عصر مسلمانان را به شناخت یکدیگر و اتحاد و همکاری در رأی و کوشش برای جبران آنچه بر مسلمانان عارض شده از گرفتاریهای اجتماعی، دعوت می کرد، فریاد دو دانشمند مبارز، سیدجمال الدین و شیخ محمد عبده بود، رحمت خدای بزرگ بر آن دو باد. (8)

خود سید جمال الدین در این باره می فرماید:

"شرق شرق، سازمان مغز و اندیشه خود را به تشخیص درد اصلی شرق و جستجوی درمان آن اختصاص دادم. دریافتم که کشنده ترین درد شرق، جدایی افراد آن از یکدیگر و پراکندگی اندیشه های آنان و اختلافشان بر

سر اتحاد و اتحادشان در اختلاف است. پس در راه وحدت عقیده و بیدار کردن آنان در برابر خطر غربی که ایشان را فراگرفته دست به عمل زدم." (9)

ایشان بخاطر مبارزۀ همه جانبه با استعمار غربی از تمام وسایل ممکنه استفاده کرد که باعث احیای روح آزادی خواهی در میان طبقات مختلف جامعه شد.

**مانع سوم-** جهل و نادانی مسلمانان: یکی از بیماریهای خطرناکی که جامعۀ اسلامی را به چالش برده، دوری از نعمت علم و دانش می باشد؛ چیزی که سایه اش در عصر سید جمال الدین افغانی اکثریت کشورهای اسلامی را فراگرفته بود.

وجود این بیماری بود که استبداد و استعمار در تبانی هم بشریت را به اسارت گرفته اند. اما سید جمال الدین به مثابه جامعه شناس باریک بین به خوبی علت بروز امراض گوناگون در جامعۀ اسلامی را درک کرد و جهت مداوای آن عملاً دست به کار شد و در هرجایی که می رفت، حلقهء درس را تشکیل می داد و به اساس مقولۀ: کلموا الناس علی قدر عقولهم، برای عامهء مردم یک نوع آموزش می داد و برای دانشمندان نوع دیگری را با تأکید به اینکه متخصصان علوم مختلف را در یک حلقه می نشاند و در کنار تدریس، مسؤولیت سترگ شان در قبال جامعه را برایشان افهام می کرد.

این عمل وی نتایج خوبی را در هند، ایران، مصر و ترکیه به بار آورد و در هرجا شاگردان و ارادتمندان متعددی را تربیت نمود. وی علی الرغم حساسیت هایی که در رابطه به بعضی علوم مانند جغرافیه در میان علمای آن وقت موجود بود، تمثالی از کرۀ زمین را با خود داشت و همه جا دانشمندان را به اهمیت علم مذکور تشویق می کرد. چنانکه سعد زغلول پاشا رهبر بزرگ ملی و رئیس دولت مصر در بارۀ خاطرات جوانی خود می نویسد: در دوران جوانی، آن زمانی که در الازهر مصر تحصیل می کردم، شنیدم که سید جمال الدین آمده و در الازهر علوم جدید را نشر می کند. کُره ای کوچک در بغل دارد و از جغرافیا بحث می کند. علما او را از تدریس جغرافیا و مسائل اجتماعی باز می داشتند و می گفتند: این درسها در الازهر صحیح نیست. من هم مانند اغلب جوانهای آن روز جامد و خشک بودم؛ با چند نفر تصمیم گرفتیم برویم و او را بزنیم و تصور می کردیم که با آن کار اجر دینی و ثواب اخروی نیز خواهیم برد. با چند نفر از رفقا به نزدیک خانه ای رفتیم. در آستانه دری که متصل به اتاقش بود، از ابوتراب که مستخدم او بود، سراغ سید را گرفتیم. پرده ای را بالا زد، دیدیم سید در گوشه اتاق نشسته و در کنار او یک کره جغرافیا بود. سلام کردیم و داخل شدیم و از سید راجع به کره جغرافیا سوالاتی کردیم. سید کره جغرافیا را در دست گرفت و با کلماتی لبریز از عشق به میهن بزرگ اسلام، کشورهای اسلامی

را روی کره به ما نشان داد. از فقر و تیره روزی و جهل مسلمانان و نقشه های شوم استعماری دولت های مغرب زمین برایمان سخن گفت و در پایان خاطر نشان ساخت که نجات مردم مسلمان بدون شناخت صحیح از کشورهای اسلامی و بازگشت به وحدت صدر اسلام امکان پذیر نیست ... من که مسحور قیافه و سخنان او شده بودم، به رفیقم گفتم: نباید با این مرد معارضه کنیم. (10)

سید جمال الدین بالای کسانی که از روی تعصب نادرست مردم را از فراگیری برخی علوم باز می داشتند، تازیده و می گفت: این فرنگیها که اکنون به همه جای عالم دست انداخته اند، و انگلیس که خود را به افغانستان رسانیده و فرانسه که تونس را به قبضهٔ تصرف خود درآورده، این تطاول و این دست درازی و این ملک گیری نه از فرانسه بوده است و نه از انگلیس؛ بلکه علم است که هرجا عظمت و شوکت خود را ظاهر می سازد و جهل در هیچ جای چاره ای ندیده، مگر آنکه سر خود را به خاک مذلت در پیشگاه علم مالیده، در مقابل آن، اعتراف بر عبودیت خود نموده است. (11)

باری سید جمال الدین خطاب به مسلمانان گفت: هرگز تعصب دینی نباید موجب بغض با علوم و معارف و سبب تنفر از صنایع و بدایع گردد و از اینکه برخی از آنان علوم و فنون جدید را مکروه و مبغوض می شمردند، سخت بر می آشفت و می گفت: از روی تعصب دینی برایشان واجب است که هر جا فضیلتی و کمالی و علمی و معرفتی ببینند، خود را احق و اولی دانسته و در راه به دست آوردن آن تلاش و کوشش کنند و نگذارند مخالفان دین اسلام، در فضایل و کمالات بالایشان سبقت بگیرند. (12)

**مانع چهارم:** دوری از دساتیر اسلام: یکی از عواملی که مانع تحقق وحدت میان مسلمانان می گردد، فاصله گرفتن آنها از احکام دین می باشد، این نقیصه در زندگی عملی حاکمان و شهروندان معاصر سید جمال الدین وجود داشت که توأم با عوامل دیگر، راه نفوذ دشمنان به جهان اسلام را باز کرده و مسلمانان را ذلیل ساخته بود.

به نظر سید، آنچه عیب است از مسلمانی ماست نه از اسلام. علل اساسی تفرقه مسلمانان و انحطاط آنان، دوری از اسلام راستین و قرآن کریم است. وی بر این باور بود که مسلمانان سده‌های نخستین، به سبب اعتقاد و عمل به اسلام اصیل، که احکام آن دقیق و اصول آن نیرومند و قواعد آن محکم و دستورهایش همه رموز زندگی فردی و اجتماعی را شامل بود، با هم وحدت داشتند و کشورهای اسلامی در راه نیرومندی و عظمت گام بر می‌داشتند. فاصله از اسلام و تعالیم حیات بخش آن، باعث تفرقه مسلمانان شد. از این روی، اگر مسلمانان خواهان مجد و عظمت گذشته‌اند، باید به اسلام راستین بازگردند و قرآن را کتاب زندگی بدانند، نه فقط کتاب مقدس، قابل احترام و بی‌ارتباط با زندگی.

اگر ارتباط و پیوند مسلمانان و کشورهای اسلامی قطع شده و در نتیجه از همکاری و تعاون یکدیگر در مصائب و مشکلات بی‌بهره مانده‌اند، به سبب دوری آنان از اسلام است. بالاترازین، اگر مسلمانان در یک کشور، بلکه در یک شهر، با هم رابطه نزدیکی ندارند، به سبب فاصلهء شان از اسلام است. (13)

علامه سید جمال الدین افغانی منحیث مبلغ دینی بخاطر نزدیک شدن هرچه زودتر و بیشتر مسلمانان باهم، به آیات قرآنی که آنها را به وحدت و همگرایی دعوت و از تفرقه باز می دارد، استناد می کرد. وی، نصوص مختلفی از قرآن و سنت را که مبین وحدت مسلمانان و اجتناب از تفرقه و پراگندگی می باشد نقل نموده و همه را به اتحاد و اتفاق تشویق می نمود.

سید جمال الدین افغانی جهت چنگ زدن مسلمانان به رسن الهی و دوری از هر نوع تفرقه، به تعصب دینی مسیحیان و یهودیان که در زیر پرچم صلیب و صهیونیزم، اروپا را علیه جهان اسلام به حرکت آوردند، اشاره می نماید.

وی در العروة الوثقی ضمن یاد آوری از مظالم مسیحیان در اندلس( هسپانیهء امروزی)، خاور میانه و سائر مناطق (17) غیرت مسلمانان را به شور می آورد تا در برابر جنایات غربیها سکوت نکنند بلکه با وحدت خویش نه تنها مانع یورش آنها گردند بلکه جایگاه قدرت خود را در زمین استحکام نمایند.

نمبر18 حذف شد، در پاورقی ها متوجه باشید.

صهیونیسم یهودی، امروزه از تمام امکانات برای پاکسازی قومی و دینی در سرزمین فلسطین استفاده کرد. و گزافه نیست اگر بگوییم که از مهم‌ترین پایه‌های تشکیل رژیم صهیونیستی، استفاده کاملاً پوپولیستی از دین بوده است. مهاجرت به ارض موعود که البته در آغاز سرزمینی در آفریقا بود، ولی سپس با مساعدت انگلیسها به فلسطین معطوف شد، یهودی‌های سراسر دنیا را با فریب و نیرنگ به آنجا کشید و با شستشوی ذهن و روح آنها، اسلحه به دست آنان داد تا ساکنان اصلی سرزمین فلسطین، اعم از مسیحی و مسلمان را از بین ببرند و هولوکاستی را در سرزمینی فلسطینی بیافرینند که روی هولوکاست هیتلری را سفید کرد. (19)

سید جمال الدین افغانی به مسلمانان می فهماند که راه پیروزی شان در متابعت از احکام شرع می باشد آنگونه که در تاریخ به تجربه ثابت شده است.

عمده ترین محورهای عملی سید جمال الدین برای وحدت اسلامی: سید جمال الدین با مطالعۀ عمیقی که از جهان اسلام داشت و می دید که مسلمانان در هر جا بشکل پراگنده آماج دشمنان قرار دارند، این انگیزه در ذهنش جاگرفت که بدون وحدت، مسلمانان نمی توانند از زیر سلطۀ حکام مستبد و استعمار رهایی یابند؛ لذا

راهکارهای متعددی روی دست گرفت و بخاطر عملی کردن آن تلاشهای مستمری نمودند که مهم ترین محورهایش جهت تحقق وحدت امت موارد ذیل می باشد:

1- همت بلند و ترک آسایش: سید به این نتیجه رسیده بود که هر قدر انسان زندگی آرام و راحت داشته باشد، به همان اندازه همتش کاهش یافته و به پستیها تن می دهد، لذا به فرمودۀ عمر فاروق رضی الله عنه که گفته است: اخشوشنوا فإن النعمة لا تدوم، (20) عمل می نمود و مسلمانان را به آن ترغیب می کرد، چنانکه در نامۀ به یکی از رجال بزرگ دولت عثمانی چنین نوشت: از مطالعۀ احوال مردان با همتی چون ابو مسلم خراسانی که دولت بنی امیه را برانداخت و پطر راهب که پرچم جنگ های صلیبی را برای پیشبرد عقیده خود برافراشت، بدین نتیجه رسیده که جز با همت بلند و ترک راحتی و آسایش، هرگز نمی توان پیروز و کامیاب گردید. (21)

2- به حرکت آوردن ملل شجاع: سید جمال الدین با درک این مطلب که وحدت امت توسط مردمان غیرملتزم و ترسو متحقق نمی شود، به دید و وادید آنها پرداخت چنانچه می نویسد: نخست آنکه باید سفری به هند باید داشته باشد؛ زیرا مسلمانان آنجا از مکنت و ثروت برخوردارند و در دینداری ثابت و استوارند، اما به سبب نادانی و نا آگاهی، در غفلت غنوده اند و منافع اتحاد و اتفاق و زیانهای اختلاف و نفاق را نفهمیده اند، و پس از آن روانۀ دارالایمان افغان شوم و اهالی آن بلاد را که مانند شیر از خونریزی اندیشه ندارند و در آهنگ جنگ خصوصاً جنگ دینی، درنگ را روا نشمارند، آنها را به محاربه دینیه و مجاهده ملیه دعوت کنم. و بعد از آن به سرعت تمام روانه بلوچستان شوم و اهالی آن بلد را به تشویق دینی و ترغیب منافع دنیوی به محاربه عمومیه دعوت کنم و از آنجا عنان ترکمان کنم که در هر زمان به شجاعت و جسارت معروف و در هر زمان به خونریزی و فتنه انگیزی موصوف بودند، ولکن در این اخیر زمان کلاه عار بر سر، و پیراهن ننگ در بر کرده اند، تا آنانرا به اخذ ثأر دعوت کنم و نیز داعیان تیز زبان به جانب کاشغر و یارکن روان تا مؤمنان آن دیار را به اتحاد اهل ایمان دعوت کنند. (22)

3- دعوت ایرانیها و افغانها به اتحاد: سید جمال الدین افغانی با شناختی که از ملت ایران و افغان داشت، از ایشان بخاطر خدمت هرچه بیشتر به اسلام و مسلمانان خواست تا دست دوستی و وحدت را بهم دهند؛ زیرا به گفتۀ سید: این دو طایفه، دو فرع یک درخت هستند و دو شعبه ای که به اصل واحدی بر می گردند و آن اصل فارسی قدیم است. و دیانت حقۀ اسلامی به این ارتباط افزوده است و میان ایشان جز یک اختلاف جزئی که هیچوقت شق عصا و به هم گسیختگی تار و پود اتحاد شان منجر نمی گردد و در نزد خردهای سلیم، مناسب نیست تا این نوع اختلاف جزئی، سبب تخالف عنیف "مخالفت شدید" گردد.

از ایرانیان با داشتن افکار بلند شان دور نیست که آنها نخستین قیام کنندگان به تجدید وحدت اسلامی و تقویت پیوندهای دینی باشند، به گونه ای که در آغاز اسلام با نشر علوم، حفظ احکام و کشف اسرار آن و آنچه در خدمت شرع شریف، با وسایل گوناگون انجام دادند.

سید پس از یاد آوری خدمات ارزندهٔ مردمان این خطه، به اسلام، ایشانرا اینگونه خطاب می کند: بناءً ای فارسیها! شما نقش تانرا در علم به یاد آورید و به آثار گرانبهای خویش در اسلام بنگرید و بنیاد وحدت دینی باشید. طوریکه در آغاز اسلام آنرا نگهداری کردید شما با در نظرداشت آنچه انجام داده اید، سزاوار ترین مردم به سعی در برگرداندن آنچه هستید که در فُتوَت اسلام، آن نقش را دارا بودید. شما سزاوارترین مردم در وضع شالودهٔ وحدت اسلامی می باشید و انجام همچو کار با در نظرداشت نجابت و عزم راسخ تان "از سوی شما" هیچ بعید نیست. این زمان بهترین وقت ندای شما جهت وحدت با افغانها و همپیمایی با ایشان در جهت مقاومت متجاوزان است، با اتحاد با ایشان دژ تسخیر ناپذیر و مانع نیرومندی گردید که گامهای طمع کاران در آن توقف نماید. من می دانم شما استیلای انگلیس بر شهرهای هندی را فراموش نکرده اید، این کار به سبب اختلافی بود که میان شما و افغانها به وقوع پیوسته بود.... (23)

4- ارسال نامه به امراء و سلاطین مسلمان: سید جمال الدین افغانی که با لذایذ دنیوی وداع گفته و در هر جایی تخم وحدت را می کاشت و غرض آبیاری آن در تلاش بود، بطور منظم با سلطان عبدالحمید گاهی از طریق نامه و گاهی از نزدیک در تماس بود تا بتواند وحدت در حال متلاشی شدن مسلمانان را مستحکم نموده و اختلافی که باعث پراگندگی شان می شود، برطرف سازد، لذا در یکی از دیدارهایش با سلطان جمعیت اتحاد اسلام را بینان نهاد، او با عبدالحمید قرار گذاشت که مکاتبات دولتی و درباری بر عهدهٔ سلطان باشد، ولی با علما و رجال دینی و ملی خود مکاتبه کند. از این رو، حدود ششصد نامه به رهبران مذهبی و روشنفکران مسلمان نگاشت که در پی آن بیش از دوصد پاسخ دریافت کرد. (24)

دیری نپایید که نامه هایی حاکی از پذیرش این دعوت به همراه هدایایی برای حضور سلطان عبدالحمید از اقصی نقاط عالم رسید. به دستور سلطان همه مکتوبات را به زبان ترکی ترجمه کردند و او همهٔ آنها را به حضور سلطان تقدیم داشت. نوشته اند: هنگامی که سلطان مکتوبات را ملاحظه و ترجمه آنها را به دقت مطالعه کرد، به شدت مسرور و خرسند شد؛ به طوریکه از فرط شادی سید را در آغوش کشید و چندین بار روی او را بوسید و نفوذ کلمه و توفیق ویرا ستود و به او تبریک گفت، آنگاه فزود:

اکنون که به مدد خداوند جل جلاله و کوشش شما این موفقیت بزرگ را بدست آوردیم باید مرحلۀ دوم کار را آغاز کنیم و آن محول کردن اجراءات کنکره به بابعالی و صدارت عظمی است که البته شیخ الاسلام را نیز باید با خویش همراه و همدست نماییم. سید پذیرفت اما پس از آنکه کارها به مقام مشیخت و صدارت عثمانی محول شد، رفته رفته اختلافات ظاهر گردید. (25)

5- تأسیس انجمن های ادبی و سازمان های سیاسی: سید جمال الدین افغانی بنا به پلانی که جهت تحکیم وحدت اسلامی، در سر داشتند، در هر جایی که مدتی می بودند کارهایی را انجام می داد، چنانچه نشریه های مختلف را در کشورهای مختلف هنگام اقامتش تأسیس کرد، که از آن منبر مسلمانان را به وحدت فرا می خواند و از تفرقه باز می داشت مانند: عروة الوثقی لانفصام لها، روزنامۀ مصر، روزنامۀ التجاریه، نشریۀ مرآة الشرق. علاوه بر اینکه مقالات متعددی را در نشریه های مختلف جهان از جمله روسیه، آلمان، لندن، هند، ایران و جاهای دیگر که حاوی فراخوانی مسلمانان به وحدت بود، می نوشت و شاگردان زیادی را نیز به نویسندگی به سبک خودش تربیت کرد که در وقت زندگی و پس از مرگش راهش را ادامه دادند.

در کنار فعالیتهای فرهنگی، سازمانهای سیاسی ای را نیز بنیاد نهاد مانند حزب میهنی مصر و جبهۀ اتحاد اسلامی در ایران که اهداف آنجناب را پیگیری می نمودند. (26)

هرچند اندیشۀ والای سید جمال الدین افغانی در رابطه به وحدت اسلامی در حیاتش به چالشهایی مواجه شد و تعدادی به علت خواستهای نفسانی در راه آن سنگ اندازی نمودند ولی واقعیت اینست که تمام جریانهای نوگرا و جنبشهای اسلامی ای که ندای وحدت امت را بلند کرده اند و در راه تحقق آن می کوشند، از چشمه سید آب می خورند و متأثر از نظریات ایشان می باشند.

نتیجه: از لابلای مقالۀ فوق به این نتیجه می رسیم:

1- سید جمال الدین افغانی بخاطر بازگردانیدن وحدت اسلامی تلاشهای مجدانه نمودند.

2- سید جمال الدین تمام قوت خود را غرض استحکام وحدت اسلامی به کار برد.

3- سید جمال الدین جهت تحقق وحدت اسلامی از همه وسایل معمول وقتش استفادۀ اعظمی نمود مانند: سخنرانی، نوشتن مقالات و رسایل، نشر نشریه ها، ارسال نامه به امراء، سلاطین و شخصیت های علمی و تأثیرگذار.

4- سید جمال الدین افغانی شاگردان زیادی را تربیت نمود که اندیشه های ویرا در حیات و پس از مرگش گسترش دادند.

5- سید جمال الدین افغانی مؤسس اندیشه های آزادی خواهی، استعمار ستیزی، وحدت اسلامی و مغز متفکر جریانهای سیاسی اسلامی می باشند.

پیشنهادات: برای تعمیم هرچه بیشتر اندیشه های سید جمال الدین افغانی پیشنهاد می گردد که:

1- آن دسته آثار سید جمال الدین افغانی که در مراکز علمی، آرشیف ملی و یا جای دیگر افغانستان موجود باشد، جمع آوری شده و به نشر سپرده شود.

2- آثار جمع شدۀ سید جمال الدین توسط دکتور عماره و سید هاید خسروشاهی به زبانهای رسمی کشور ترجمه شده و به زود ترین فرصت به زیور چاپ آرسته گردند.

3- مرکز علمی ای بنام سید جمال الدین شناسی ایجاد شود.

4- اندیشه های سید جمال الدین افغانی در نصاب تعلیمی معارف و تحصیلات عالی گنجانیده شده تا دانشجویان از اندیشه های وی با خبر شوند.

5- جهت شناخت بهتر و بیشتر سید جمال الدین سیمینارها و کنفرانسهای متعددی در سطح کشور برگزار شده و از طریق رادیو و تلویزیون بصورت کامل نشر گردد.

## ماخذ:


1. شیخ محمد محلاتی، گفتار خوش یارقلی، انتشارات فراهانی، تهران، ص: 65- 76.
2. محمد اقبال،
3. مرتضی مهری، بررسی اجمالی نهضت های اسلامی در صد سال اخیر، انتشارات صدرا، تهران، 1356هـ - ش، ص: 27.
4. محمد عمار، روح آورۀ شرق(سرگذشت پرماجرای سید جمال الدین افغانی)، مترجم: مهران موحد، انتشارات سعید، کابل، 1395هـ- ش، ص: 64.
5. همان اثر، ص: 65- 66.
6. همان اثر، ص: 71.
7. واثقی، صدر، سیدجمال الدین حسینی پایه گذار نهضتهای اسلامی، تهران: شرکت سهامی انتشار، ۱۳۴۸، ص:۱۱۲ به نقل از مجله المنار، جزء۲، ص: ۱۳۱.
8. سیدجمال الدین، محمد عبده، العروه الوثقی، بیروت: دار الکتب العربی، مقدمه، ص ۱۳.

9. سید غلام رضا سعیدی، مفخر شرق، دفتر نشر فرهنگ اسلامی، مقدمه سید هادی خسرو شاهی، تهران، 1370هـ- ش، ص: 161.
10. محمد جواد صاحبی، سید جمال الدین بنیانگذار نهضت احیای تفکر جدید، انتشارات فکر روز، تهران، 1375هـ- ش، ص: 23.
11. ابوالحسن جمالی، مقالات جمالية، انتشارات اسلامی، تهران، 1358هـ- ش، ص: 130- 131.
12. وحدت اسلامی در اندیشه سید جمال الدین اسد آبادی، سایت تقریب مذاهب اسلامی، تاریخ انتشار: 19/09/1396 http://www.taghribnews.com/vdcdsk0xxyt0nk6.2a2y.html
13. الحجرات/ 10.
14. محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله، صحيح البخاري، ج: 19، ص: 9.
15. آل عمران/ 105.
16. سید جمال الدین و شیخ محمد عبده، العروة الوثقی، انتشارات بعثت، قم، 1390هـ- ش، ص: 135.
17. مرتضی مطهری، بررسی اجمالی نهضت های اسلامی صد سال اخیر، انتشارات صدرا، تهران، 1356هـ- ش، ص: 28.
18. پوپولیسم مذهبی، 1386/2/ 1، farsi.khamenei.ir/others-article
19. محمد حسين يعقوب، الجدية في الالتزام، مرتب، أبو عبد الرحمن المغربي، المكتبة الشاملة، ص: 9.
20. سید هادی خسرو شاهی، نامه ها و اسناد سیاسی سیدجمال الدین، دارالتبلیغ اسلامی، قم، 1352هـ- ش، ص: 122- 132.
21. همان اثره.
22. فضل الرحمن فاضل، معرفی الآثارالکاملة یا میراث فکری سید جمال الدین افغانی، بنگاه انتشارات میوند، چاپ: نخست، 1387هـ- ش، ص: با اختصار: 8- 10.
23. محمد جواد صاحبی، سید جمال الدین حسینی پرچم دار اتحاد و تقریب، مجمع جهانی تقریب مذاهب اسلامی، چاپ: اول، 1385هـ- ش، ص: 175.
24. همان اثر، ص: 177.
25. روح آوارۀ شرق، ص: 90. سید جمال الدین حسینی پرچم دار اتحاد و تقریب، ص: 75.

Center for Strategic and Regional Studies

**د کتاب مخکتنه**

## عبدالله الاحسن. أُمت که ملت؟ په معاصره مسلمانه ټولنه کې د هویت بحران. لیشیستر: اسلامک فاونډیشن. مخونه ۱۵۸. ۱۹۹۲ کال

احمد بلال خلیل[3]

د ډېرو په اند، د ۱٦٤۸ کال ویستفیلیایي تړون په اروپا کې قومي دولتونو ته لاره پرانیستله او په اروپا کې یې دېرش کلنې جګړې (د یو شمېر نورو په اند اتیا کلنې جګړې) ته د پای ټکی کېښود. دې تړون په اروپا کې «خودمختارۍ» ته لاره هواره کړه او د کاتولیکې کلیسا واک یې هم محدود کړ او پر ځای یې دولتونو ته اجازه ورکړل شوه، چې په خپله خوښه د خپلو دولتونو لپاره مذهب غوره کړي، خو په اروپا کې ځینو د مذهب رول په تدریجي توګه کم کړ او ځینو نورو بیا د پروتستانت مذهب غوره کړ. دغه راز له دې تړون وروسته، اروپایان د مذهب او ملي دولتونو ترمنځ د لومړیتوب له بحران سره مخامخ نه شول. د دوی لپاره لومړیتوب خپلو دولتونو درلود، نه کومې کلیسا او نه هم مذهبي عیسوي ټولنې او یا نړۍ، خو برعکس، د عبدالله الاحسن په اند، چې د «*أُمت که ملت؟ په معاصره مسلمانه ټولنه کې د هویت بحران*» کتاب لیکوال دی، په اسلامي نړۍ کې د نشنلېزم رامنځته کېدل د اسلام او د مسلمانانو د «اُمت» پدیده وننګوله او وروسته بیا د اروپایي سېکولار فکر او د سنتي اسلامي نظریاتو د ستونزمنو روابطو له کبله شونې شوه، چې په اسلامي هېوادونو کې د هویت بحران رامنځ ته شي. د لیکوال په آند دې نوي زیږېدلي حالت مسلمانان سربداله کړل، چې د دوی تر ټولو لومړنۍ وفاداري اوس له چا سره ده؟ آیا له ملي دولتونه سره ده او که له اُمت سره؟

عبدالله الاحسن د استانبول په شهر پوهنتون کې د سیاسي علومو او نړېوالو اړیکو په ډیپارټمنت کې د تقابلو تمدنونو پروفیسور دی. دی له دې وړاندې د مالیزیا په نړېوال اسلامي پوهنتون کې استاد و او د کاناډا له مېک ګیل پوهنتون څخه په تاریخ کې ماستري او دکتورا لري او تر اوسه یې پر اسلامي او غربي تمدونونو سربېره د اسلامي همکارۍ سازمان په تړاو لیکل کړي دي. د امت که ملت له کتاب څخه علاوه، د عبدالله الاحسن مشهور کتابونه د اسلامي همکارۍ سازمان ( The Organization of Islamic Conference: Introduction to an Islamic Political Institution (International Institute of Islamic Thought, Herndon, VA,

---

[3] احمد بلال خلیل د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز علمي غړی او د دغه مرکز د تحلیل ژورنال مسؤل مدیر دی. د افغانستان په بهرني سیاست، معاصر تاریخ، اسلامپالنه، له ګاونډیانو سره اړیکې او سیمه‌ییزو جیواقتصادي او جیوپولیتیکي بدلونونو کې لېوالتیا لري.

(1988 او د ښې حکومتولۍ ( Guidance for Good Governance: Explorations in Quranic, Scientific and Cross-cultural Approaches (International Islamic University Malaysia, 2008 and 2013). په تړاو دي.

کوم کتاب چې موږ دلته ارزوو، دا د اسلامک فاونډېشن له خوا خپور شوی دی. نوموړی مرکز د پاکستان د دوو مشهورو اسلامپالو پروفیسور خورشید احمد او خرم مُراد له خوا په ۱۹۷۳ کال کې په انګلستان کې جوړ شو. د دې ادارې بنسټیزه موخه د اسلامي فکر پر بېلابېلو اړخونو د څېړنو وده ده. تر اوسه یادې ادارې د اسلامي فکر د بېلابېلو عنوانونو تر نامه لاندې له ۴۰۰ زیات کتابونه چاپ کړي دي. په عمومي توګه له دې ادارې څخه چاپ کېدونکي ډېری مواد د دودیزه سُنّي او اسلامپال (سیاسي اسلام) لیدلوریو تر اغېزو لاندې دي.

په بنسټیزه توګه د یاد کتاب موخې درې دي:

1. په مسلمانو هېوادونو کې د دودیزو اسلامي افکارو او اروپايي سېکولار افکارو ترمنځ ستونزمنه اړیکه په نښه کول؛
2. پر معاصرې مسلمانې ټولنې پوهېدنه؛
3. په مسلمانو هېوادونو کې د اسلامپالو پر زیاتېدونکې مبارزې پوهېدنه.

لیکوال دغه هر څه د کتاب په پېژندنه او په پنځو فصلونو کې بحث کړي دي. په لومړي فصل کې، لیکوال د اُمت اصطلاح په قراني آیاتو کې بحث کړې ده. د ده په اند، د اُمت اصطلاح په قران کې ٦٤ ځله راغلې او په خپل کتاب کې یې د اُمت په تړاو لس بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي. دی د اُمت تعریف له قرآنه په داسې ټکو کې کوي:

«د محمد صلی الله علیه وسلم لارویان یو اُمت جوړوي، چې دا منځلارې او تر ټولو غوره ټولنه ده. په بشر کې د دوی رول دا دی، چې د ښو دعوت وکړي او له بدو خلک را وګرځوي. د دې ټولنې خلک دا هر څه د ورورولۍ او برابرۍ په بنیاد کوي» (مخ ۱۷). په بل اړخ کې د دې اصطلاح عملي اړخ بیا د مدینې په ماډل او د راشده خلفاوو په دورو کې توضیح شوی دی.

په دویم باب کې، لیکوال په ترکیه، مصر او پاکستان کې د ملي دولتونو د راپورته کېدنې او د استعمار پرضد د دوی په نشنلیستي مبارزو کې د اُمت د هویت په تړاو له ادبیاتو غږېدلی دی. دی پر دې اند دی، چې دغه مهال په دغو هېوادونو کې د اُمت پدیدې او د دوی د نشنلیستي مبارزو ترمنځ کوم ټکر نه ؤ او یا هم دا د پردې تر شا پاتې شوی ؤ، خو په درېیم باب کې لیکوال بیا د دې برعکس وایي، څنګه چې دغو هېوادونو خپلې خپلواکۍ ترلاسه کړې، نو دې بیا د دغو هېوادونو وګړي په یو ابهام کې واچول چې دوی نو اوس څوک دي؟ د دوی د هرم تر ټولو لویه وفاداري اوس له چا سره ده؟ له اُمت سره او که له ملي دولتونو سره؟

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د دې کتاب په څلورم باب کې د اسلامي همکارۍ سازمان د يو اُمت او د مسلمانانو ملي دولتونو د يو ماډل په توګه بحث شوی دی او وروستی باب بيا د پايلې او راتلونکي په تړاو دی.

لکه چې يې يادونه وشوه، نوموړی کتاب د اروپايي سېکولار فکر او د سنتي اسلامي فکر ترمنځ له يوې ستونزمنې اړيکې غږېږي، چې له کبله يې ډېری مسلمانان د هويت په بحران کې لتاړ شوي دي. دوی يعنې مسلمانان په دې کې ګيچ دي، چې د دوی وفاداري اوس له چا سره ده؟ د اُمت له پديدې سره او که له نويو رامنځته شوو ملي دولتونو سره؟ د نوموړي کتاب ليکوال استدلال کوي؛ ملي دولتونه له خپلو ګړو د جاهليت د زمانې په څېر د وفادارۍ غوښتونکي دي، ځکه هغه مهال به قبيلو له خپلو خلکو د دا ډول وفادارۍ تمه درلودله، خو «اُمت» چې له هجرت وروسته په مدينه کې رامنځته شو، دا بيا د قبيلوي وفادارۍ ځای ناستی شو. عبدالله احسن وايي، چې اسلام؛ قبيلوي هويت نه دی ختم کړی، بلکې يوازې يې د ګړو د وفادارۍ سلسله مراتب ته بدلون ورکړی دی او اوس لومړيتوب اُمت ته ورکول کېږي.

په شلمه پېړۍ کې، تقريباً د نړۍ ډېری مسلمان هېوادونه د استعمار تر جوغ لاندې دل شوي وو. د دوی لپاره ستونزمنه وه، چې اروپايي ځواکونه په نظامي ډګر کې ونګوي. له همدې ځايه، د استعمار پرضد د دوی مبارزې يوه نوې بڼه غوره کړه. د ليکوال په اند «مسلمان مفکرينو اروپايي ژبې او د استدلال طرز زده کړ؛ په اروپايي ژبه او منطق يې د اروپايي استعمار پرضد مبارزه پيل کړه» (مخ ۴). له همدې ځايه، د مسلمانانو د رهبرۍ پاړکی چې وروسته يې د مسلمانانو د ملي دولتونو جوړونې ته لاره هواره کړه، خپله مبارزه پر اروپايي نشنلېزم پېل کړه او د ليکوال په اند د همدې نشنليستي مبارزې په دوران کې «د مسلمانانو د نشنلېزم تيورسنانو خپل فکر پر اسلامي او سېکولار اصولونو استوار کړ، خو کله چې دا فکر بيا عملي اړخ ته وغورځول شو، نو دې په مسلمانه ټولنه کې اغتشاش رامنځته کړ او مسلمانان د اسلامي او اروپايي سېکولار افکارو ترمنځ د لومړيتوب له پوښتنې سره مخامخ شول» (مخ ۲).

ليکوال د خپلې ادعا د ثبوت لپاره يوازې درې مسلمان هېوادونه مطالعه کړي: ترکيه، مصر او پاکستان. د ليکوال په اند ترکيه يې ځکه انتخاب کړې، چې دا لومړنی مسلمان هېواد و، چې له اروپايي افکارو سره مخامخ شو او لومړنی مسلمان هېواد دی چې دولت يې سېکولار شو. د مصر د انتخابولو لوی لامل دا و چې دا يې د عربي نړۍ د استازي او د اسلامي فکر د مدافع په توګه انتخاب کړی دی او د پاکستان د مطالعې کولو ستر لامل بيا دا و، چې په هند کې د پاکستان د رامنځته کېدو ستر لامل د مذهب تر نامه لاندې مبارزه وه، نه د نشنليزم پر بنياد کوم خوځښت او مبارزه.

د دې ترڅنګ لیکوال زیاتوي، چې په دې درېواړو هېوادونو کې د تعلیم او اساسي قانون پرمختیاوې بل هغه څه وې، چې په دې هېوادونو کې یې د هویت بحران لا پسې وسیع کړ. د همدې پرمختیاوو له کبله شونې شوه، چې د هویت بحران د رهبرۍ له طبقې څخه عامو مسلمانانو ته هم راکښته شي.

لیکوال د بحث د راغونډولو ترڅنګ خپله پاملرنه د اسلامي همکارۍ سازمان ته کوي او وایي چې یاد سازمان د د دواړو یعنې د اُمت او د مسلمانانو هېوادونو د سازمان په توګه وړتیاوې لري، خو ترڅنګ یې دی استدلال کوي، چې د دې سازمان دننه یو شمېر تیوریکي تناقضونه شته دي، چې د اروپایي سېکولار او سنتي اسلامي فکر د ستونزمنې اړیکې له کبله رامنځته شوي دي او دا بیا دغه سازمان دې ته نه پرېږدي څو ایډیالې پریکړې او یو شمېر قراردادونه پلي کړي. د لیکوال په اند دغه تناقضونه په لاندې ډول دي:

1. د اسلامي همکارۍ سازمان غړي وګړي نه دي، بلکې دا دولتونه دي، خو برعکس اُمت له وګړو جوړ دی، نه له ملي دولتونو.

2. د اسلامي همکارۍ سازمان په منشور کې د «مسلمانانو دولتونو» اصطلاح په سمه توګه نه ده تعریف شوې؛

3. د اسلامي همکارۍ سازمان په خپل منشور کې وایي، چې د ملګرو ملتونو او انساني حقونو منشورونو ته ژمن دی، خو دا بیا د قرآن له ارزښتي سېستم سره په ټکر کې ده؛ ځکه د ملګرو ملتونو او انساني حقونو منشورونه د بشپړې ازادۍ پلویان دي.

4. د اسلامي همکارۍ سازمان په خپل منشور کې وایي، چې نوموړی سازمان به د نړېوالې سولې او امنیت په تړاو ګامونه واخلي، چې پر «عدالت» به متکي وي؛ خو د عدالت پدیده بیا په دې منشور کې نه ده تعریف شوې. عدالت یعنې څه؟

5. که څه هم د اسلامي همکارۍ سازمان په خپل منشور کې وایي، چې د ټولو مسلمانانو مبارزه به ځواکمنوي، څو دوی خپل وقار، خپلواکي او ملي حقونه خوندي کړي؛ خو د لیکوال په اند په عملي اړخ کې دا ناممکنه ده، چې د دې سازمان غړي دې د خپلواکو ملي دولتونو دننه د مسلمانانو د خپلواکۍ او ملي حقونو له مبارزې څخه ملاتړ وکړي.

عبدالله احسن وایي، چې یو وګړی باید د هویت په تړاو خپل «لومړیتوب» تعریف کړي، که چېرې په ټولنه کې په سمه توګه عمل کول غواړي. دی لیکي: « یوازې د هویت ځواکمن فلسفي او ایډیالوژیکي بنسټ به له وګړو څخه د وفادارۍ ژمنه ترلاسه کړای شي»، خو د لیکوال په اند د اسلامي همکارۍ سازمان پر پلېټ فارم ممثره همکاري یوازې هغه مهال کېدای شي، چې د مسلمانانو له خوا د اُمت هویت ته لومړیتوب ورکړل شي. دا باید

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

له ملي دولتونو سره بدل شي؛ خو اړينه نه ده چې ملي دولتونه دې په بشپړه توګه ختم کړای شي، يوازې د هويت د سلسله مراتب بدلولو اړتيا ده.

نوموړی کتاب تر ډېره د سياسي اسلام فکر پلويانو او ايډيالوژۍ څخه متاثر برېښي او دا د کتاب له مخکتونکو څخه هم ښکاري چې ډېری يې په پاکستان او ترکيه کې اسلامپال ګڼل کېږي (ليکوال ورته په خپله سريزه کې اشاره کړې، د بېلګې په توګه خورشيد احمد، انيس احمد او داوود اوغلو). له همدې ځايه ده، چې دا کتاب د اُمت او ملت په تړاو د سياسي اسلامپالو په تېره بيا له اسلامي تحريکونو سره د تړل شوو يو شمېر خلکو ليدلوری وړاندې کوي.

زما په اند دا کتاب پنځه نيمګړتياوې لري، چې دا نيمګړتياوې بيا په دې کتاب کې په سمه توګه نه دي بحث شوي:

لومړی؛ په دې کتاب کې د مسلمانې رهبرۍ د ګېچ کوونکي فکر او د هويت بحران د رامنځته کېدو ترمنځ سمه رابطه نه ده ښودل شوې. د کتاب ليکوال يوازې د يو څو روڼ اندو د متضادو افکارو بېلګې وړاندې کړي. هغه هم په داسې مهال، چې دا ډول څرګندونې له دغو روڼ اندو په بېلابېلو پېرونو/پړاوونو کې څرګندې شوې دي. په همدې منطق، که موږ د ځينو اسلامپالو لکه اقبال لاهوري ځينې څرګندونې واخلو، نو ده هم په بېلابېلو پړاوونو کې داسې افکار درلودل چې له يو بل سره په ټکر کې و. د بېلګې په توګه علامه اقبال په پيل کې نشنليستي افکار درلودل؛ خو وروسته يې پان اسلاميستي افکار خپل کړ. د ده د دا ډول ضد و نقيض افکارو له کبله ولې د هويت بحران رامنځته نه شو لکه څرنګه چې يې ليکوال ادعا کوي. يا د پان اسلاميستانو له خوا د ملي دولتونو منل او د همدې دولتونو د پولو دننه مبارزه کول ولې عام مسلمانان د هويت له بحران سره مخامخ نه کړل لکه د مسلمانانو د رهبرۍ طبقې له خوا چې د ملي دولتونو رامنځته کولو له کبله پېښ شول؟!

دغه راز، دا څرنګه ممکنه ده چې وښودل شي، چې د مسلمانانو د رهبرۍ دغه پاړکی په رښتيا هم د سنتي اسلامي افکارو او د اروپايي سيکولار افکارو ترمنځ مغشوش و؟ آيا دا هم ممکنه نه ده، چې د رهبرۍ دې پاړکي به په پيل کې مذهب د يو سياسي ابزار په توګه نه وي استعمال کړی او له خپلواکۍ وروسته به نشنلېزم او سېکولاريزم ته مايل شوي وي؟؟ شايد دوی به له اوله په دې تړاو يوه څرګنده مفکوره درلودله؛ ان که نه يې هم درلودله، نو دا څنګه ممکنه ده، چې وواېو دوی په يو فکري بحران کې مبتلا وو؟ او آيا دا هم ممکنه نه ده چې دوی به هم په فکري ډګر کې د نورو په څېر له يوې ارتقايي پروسې څخه نه وي تېر شوي؟؟

دلته به يوازې د پاکستان د بنسټ ايښودونکي محمد علي جناح بېلګه راواخلو؛ ځکه پاکستان د ياد کتاب د بحث موضوع ده. د جناح تر مشرۍ لاندې د مسلم ليګ ګوند د هندوستان له وېشلو وړاندې څه دا ډول شعارونه ورکول چې که «مسلمان يې نو مسلم ليګ ته راشه» او «د پاکستان معنی څه ده؟ لا اله الا الله» خو وروسته چې

د ۱۹۴۷ کال د ۳ جون د هند د وېشلو له پلان وروسته، محمد علي جناح د ۱۹۴۷ کال پر یوولسم اګست د پاکستان د اساسي قانون لومړنۍ غونډې ته وینا وکړه، نو د پاکستان راتلونکی یې یو سیکولار وګاڼه.

د د دې ترڅنګ؛ ان که دا ومنو هم، چې د مسلمانانو د رهبرۍ طبقه د اسلامي او اروپایي افکارو ترمنځ ګیچ وه، نو دې بیا څرنګه عام مسلمانان د هویت بحران پر لور بوتلل؟ که څه هم لیکوال په تعلیم او اساسي قوانینو کې پرمختیاوې په ګوته کوي؛ خو بیا هم لیکوال په یو بل ځای کې پر یو بل آند دی چې دا بیا له پورتنۍ خبرې سره په ټکر کې ګڼل کېږي. لیکوال یو بل ځای وایي: هر هغه فکر چې له دودیز اسلامي فکر سره همغږی نه وي، د مسلمانانو له خوا به له یو غبرګون سره مخامخ کېږي او په اسلامي ټولنه کې به هېڅ ځای ونه لري. دی د بېلګې په توګه د امیر علي د «سپیرټ آف اسلام» کتاب او د سر سید احمد خان د افکارو حواله ورکوي. دلته پوښتنه پیدا کېږي، چې د رهبرۍ طبقې څرنګه عام مسلمانان د امت پرځای پر ملي دولتونو قانع کړل او عامو مسلمانانو د دوی پرضد کومه مبارزه ونه کړه؛ ان اسلامپال هم، د ملي دولتونو د ټولو دننه خپله مبارزه کوي، نه له ټولو وراخوا.

دویم؛ د کتاب لیکوال د مسلمانانو د رهبري پاړکي د افکارو او د عامو مسلمانانو د غوښتنو او احساساتو ترمنځ په توپیر کې ستونزه لري. دا دواړه بېل مفاهیم دي او ډېرۍ مهال د متضادو افکارو درلودونکي دي. عام مسلمانان به شاید د اُمت پدیدې په تړاو ډېر حساس وي؛ خو د ډېرۍ مسلمانانو د رهبرۍ پاړکي د یو شمېر استثناوو پرته بیا ډېره پاملرنه ملي دولتونو او ملي مفکورو ته کوي، نه د اُمت مفکورې ته.

دریم؛ په دې کتاب کې په خپله د اسلامپالو د هویت بحران په تړاو څه نه دي ویل شوي. دا د ډېرې لېوالتیا ځای دی، چې د ټولو مسلمانانو پرځای دغه بحث اسلامپالو ته هم راجع کېدلای شي. ځکه د سنتي، سېکولار او نشنلېست مسلمان په پرتله په دې بحث کې اسلام پال یا پان اسلامیست مسلمانان هم تر ډېره ګېچ دي او د هویت له بحران سره مخامخ دي. د دوی وفاداري له هغه امت سره ده، چې اوسمهال هېڅ اداراتي جوړښت نه لري او ترڅنګ یې دوی خپلو ملي دولتونو ته هم تر ډېره ژمن برېښي.

څلورم؛ د اُمت او ملت ترمنځ بحث او انتخاب هغه څه دی، چې په خپله اسلامپال یې هم په اختلاف کې غورځولي. اقبالي، اخواني او مودودي افکار له نشنلیستي افکارو سره مخالف دي؛ د دوی ډېرۍ اتکا پر مذهبي نشنلیزم ده او یوازینی انتخاب اُمت ګڼي، خو ځینې نور مسلمانان، په تېره بیا د دیوبند لویه مدرسه، چې د دودیزه سُني افکارو د خوندي کولو اداره ګڼل کېږي، د امت او نشنلیزم ترمنځ پر توپیر قایله ده. په دې تړاو د دیوبند د جمعیت علماء هند مشر او د هند د آزادۍ پیاوړی مولانا حسین احمد مدني نشنلېزم له امت سره په ټکر کې نه ګڼي. په دې تړاو د ده د «متحده قومیت نظریه» مشهوره ده. دی امت د مسلمانانو ترمنځ وروروليي

ګڼي او له دې منکر هم نه دی؛ خو ترڅنګ يې دی له هندوانو سره په يو هندي قوميت کې هم دننه کېږي. دی دغه هر څه له اسلامي ارزښتونو او اسلام سره په ټکر کې نه ګڼي. د ده په اند، پيغمبران هم پر خپلو هغو قومونو مبعوث شوي وو، چې په کې بې دينه هم وو او دوی د بې دينه توب له کبله خپل وګړي له خپل قومه او يا دی د هغوی له قومه ونه ووت او يا ونه ايستل شو. دی د نورو اسلامپالو برعکس، اُمت او ملت بېل بحثونه ګڼي، چې تر ډېره له يو بل سره په ټکر کې نه دي. له بده مرغه په دې کتاب کې د امت او ملت په تړاو يوازې هغه ليدلوري او آندونه وړاندې شوي، چې تر ډېره اقبالي، اخواني او مودودي ګڼل کېږي او نورو ليدلورو ته پکې ځای نه دی ورکړل شوی.

پنځم؛ د امت او ملت کتاب ليکوال خپل ډېری بحث دې ته راجع کوي، چې کله مسلمانان له اروپايي سېکولار فکر سره مخامخ شول، نو دې د مسلمانانو له سنتي اسلامي افکارو سره ستونزمنه اړيکه درلودله او مسلمانان يې د ملي دولتونو له جوړېدو وروسته، د يو هويتي بحران پر لور ټېل وهل، خو دلته پوښتنه راولاړېږي، چې آيا د اروپايي سيکولار افکارو سره له مخامخ کېدو وړاندې، اسلامي نړۍ «يوه» وه، دوی هغه مهال هم «يووالی» درلود او ترڅنګ يې هغه مهال هم وفاداري يوازې امت ته وه، نه خپلو امپراتوريو او واکمنيو ته؟ که د اسلام تاريخ ته يو سرسري نظر واچوو، نو مومو چې د اُموي خلافت له پای راهيسې تر اوسه؛ اسلامي نړۍ يوه نړۍ نه ده او نه يې هم يووالی درلود! هغه مهال هم اسلامي نړۍ په اموي او عباسي خلافتونو او پر غزنوي او غوري سلطنتونو وېشل شوې وه؛ وروسته بيا دغه وېش لا ارت شو او تر ډېره د عثماني، مغولي او صفوي امپراتوريو او تر څه حده د مملوکو او فاطمينو پر دورو وېشل شوې وه. نور واړه واړه سلطنتونه او امارتونه خو پرځای پرېږده. د دې ترڅنګ، اسلامي نړۍ هم د وګړو له لحاظه تر ډېره مسلمانه نه وه. عثماني خلافت د خپل اوج پرمهال تر ثلث زياتو نامسلمانانو وګړو جوړاوه او په مغولي امپراتورۍ کې له ۸۰ سلنه زيات هندوان اوسېدل. که څه هم دغو دواړو امپراتوريو له يو بل سره يو څه ارتباط درلود؛ خو يووالی يې هېڅ مهال هم نه درلود. په بل اړخ کې صفوي امپراتورۍ هم شتون درلود چې په زوره يې ايران شيعه کړ او هغه مهال په ايران کې سُنيانو ته هېڅ ځای هم نه وو. که څه هم د وېش او تقسيم په دغو دورو کې بيا هم مسلمانان تر ډېره له يو بل سر پيوند وو. له يو ځای نه بل ځای ته پر تګ راتګ ممانعت نه ؤ او هر چا کولای شول چې هر ځای چې يې زړه وي او ورته مناسبه وي استوګن شي او دندې ترلاسه کړي، خو د عامو مسلمانانو ترمنځ اوس هم په څه ناڅه بڼه دغه حالت شتون لري. دلته زموږ اشاره سياسي يووالي ته ده او د «اُمت» له ګټو د يوې يا له يو څخه زياتو حکومتونو ننګه او ملاتړ دی. دا هغه مهال هم (د وېشنو او تقسيم په دورو کې) او اوس هم له صحنې غايب دی.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

اوس پوښتنه راولاړېږي، هغه مهال، چې د خلفاء راشده او یا د اموي خلافت پای راهیسې اسلامي نړۍ په تدریجي توګه پر ډېرو مسلمانو حکومتونو وېشل کېده ولې یې په مسلمانانو کې د هویت بحران رامنځته نه کړ چې اوس بیا د ملي دولتونو له کبله رامنځته کېږي؟ هغه مهال که څه هم د امپراتوریو ترمنځ به یو څه پیوند شتون درلود؛ خو ولې بیا هم هرې امپراتورۍ ته خپلې ګټې مهمې نه وې او پر خپلو هویتونو نه نازېدل؟!

دا کتاب په دې اړخ کې، د پورته پوښتنو لپاره ځوابونه نه لري او یوازې له نولسمې او شلمې پېړۍ سره تړاو لري او دغه راز یوازې د سنتي اسلامي فکر او اروپایي سیکولار فکر له مخامخېدو څخه بحث کوي.

که څه هم دا کتاب په عمومي توګه د هغو خلکو لپاره لیکل شوی دی، چې په تاریخ او د مسلمانو روڼ اندو د آیډیالوژۍ په تړاو معلومات ولري. دا کتاب د هغه چا لپاره نه دی، چې په دې برخه کې معلومات ونه لري. له همدې ځایه، ځینې مهال ستونزمنه وي، چې یو څوک دې د دې کتاب ټول بحثونه هضم کړای شي، خو بیا هم د پایلې په توګه ویلای شو، چې د ټولو هغو لپاره چې د اُمت او ملت بحثونو، د اسلامي همکارۍ سازمان او د استعمار مهال د مسلمانانو د افکارو په تړاو لېوالتیا ولري، دا یو دلچسپه کتاب دی.

پای

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)